د رئیس الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست









ازبیکستان ته د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر

اهمیت راه های ترانزیتی و تجارتی در توسعه تجارت

کرنیز سکتور؛ د پر ګان بسیاینې او صادراتو فرصتونه

SPEECH OF MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND, THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS, AT THE MEETING WITH THE PM OF UZBEKISTAN

"

پە ترانسپورتي او مواصلاتي زیربناوو کې
پانګونه، دغصب شویو عامه ملکیتونو بېرته
استرداد، د سړکونو اولارو د اصلي حریم
تشخیصول او رغول د افغانستان اسلامي
امارت یو له اساسي او مهمو ملي موخو
څخه ګڼل کیږي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# ابادي
میاشتنی

۱۶ ګڼه
څلورم کال
شوال المکرم - ۱۴۴۶ هـ ق

# ABAADI

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحيم

# ابادي

میاشتنی

۱۶ گنه
ثلورم کال
شوال المکرم- ۱۴۴۶ هـق

| | |
|---|---|
| **د امتیاز خاوند:** | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت |
| **کتنپلاوی:** | مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي<br>فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار |
| **مسئول مدیر:** | مولوي خالق داد تقي |
| **ډیزاینر:** | عطاءالرحمن سعید |
| **فوټوژورنالیست** | حجت الله قاضي زاده |



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


| | |
|---|---|
| سرلیکنه | ۱ |
| غونډې | ۲ - ۸ |
| د پروژو پرانیستې | ۹ - ۱۲ |
| لیدنې کتنې او سفرونه | ۱۳ - ۲۱ |
| د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې او انفوګرافیکونه | ۲۲ - ۵۱ |
| English Section | 1 - 9 |



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ازبیکستان ته د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په څلورمه نېټه سفر وکړ. په دې دوه ورځني سفر کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان له لومړي وزیر، د لومړي وزیر له مرستیال او په ازبیکستان کې له میشتو افغان پانګوالو او سوداګرو سره په جلا جلا ډول وکتل. په دې لیدنو کتنو کې د ازبیکستان له چارواکو سره د سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو د پراختیا او په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې د ازبیکستاني پانګوالو د پانګونې په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې چې د ازبیکستاني چارواکو له لوري په دې برخو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ته د همکارۍ ډاډ ورکړل شو. همداراز د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په دې هېواد کې د میشت افغان پانګوالو او سوداګرو سره په ناسته کې له هغوی وغوښتل چې خپل صنعت او پانګه دې هېواد ته را انتقال او د هېواد په پرمختګ کې دې خپل مسوولیت ادا کړي. د نړیوالو اړیکو له لارې یو هېواد کولی شي له نورو هېوادونو سره خپله سیاسي او اقتصادي ملګرتیا پیاوړې او پراخه کړي. سربېره پر دې، دغه ډول اړیکي د مختلفو کلتورونو ترمنځ د پوهې او تفاهم لامل ګرځي او د همکارۍ فضاء رامنځته کوي. دا اړیکي د یوه هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره حیاتي دي. له نورو هېوادونو سره د سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو له لارې، یو هېواد کولی شي خپل محصولات او خدمات نړیوالو بازارونو ته وړاندې کړي. د صادراتو او وارداتو په زیاتېدو سره، یو هېواد کولی شي خپله اقتصادي وده چټکه او د عایداتو کچه لوړه کړي.

اسلامي امارت هم د نړیوالو اړیکو اهمیت ته په کتو په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. له ګاونډیو هېوادونو څخه نیولې بیا د سیمې او ان نړۍ له یو شمېر هېوادونو سره یې خپلې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې پراخې کړې دي.

ازبیکستان ته د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر په همدې موخه ترسره شو.

حاجي ملا صاحب د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې له خبریالانو سره د خبرو پرمهال وویل چې دوی په دې سفر کې ښه پرمختګونه درلودل چې مهم هغه یې د کرنې، برېښنا، ترانسپورټ، سوداګرۍ، د اوسپنې پټلۍ او نورو برخو کې وو. دا هغه برخې دي چې کولای شي د هېواد اقتصادي وده پیاوړې او سوداګري پراخه کړي. د دې برخو په پرمختګ سره به له یوه لوري هېواد ته د پانګونې بهیر ګړندی او له بل لوري به د هېواد زېربناوې ورغول شي.

همدا چې زموږ زېربناوې جوړې شي نو بیا مو هېواد په هر برخه کې پرمختګ کولای شي. په کار هم همدا ده چې موږ تر هر څه وړاندې د خپلو اساسي سکټورونو او زېربناوو رغولو او پرمختګ ته لومړیتوب ورکړو. اسلامي امارت په دې برخه کې تر دې مهاله ښه پرمختګونه کړي او لا هم دا لړۍ روانه ده. لرې نه ده چې افغانستان به په نږدې راتلونکي کې د یوه خپلواک اقتصاد څښتن او هېوادوال به مو هوسا او ارام ژوند ولري.



د ملـي تداركاتـــو كمېسيون او همدا راز
د تخنيكي او پانګونې بين الوزارتي كمېټو

# غونډې



## به شماری از پروژه‌های تولید برق نظر تائید ارائه شد

جلسۀ نوبتی کمیتۀ تخنیکی کمیسیون اقتصادی به تاریخ هشتم دلو سال ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید. به این جلسه کمیتۀ تخنیکی پروژه‌های به منظور انجام مطالعات امکان‌سنجی برای اعمار بندهای برق بر حوض طبیعی در ولسوالی مندول و منطقه کله گوش ولسوالی نورگرام ولایت نورستان و همچنان توزیع برق به (۱۳) قریه در پلخمری مرکز ولایت بغلان، مطرح گردید. پس از بحث و بررسی همه‌جانبه، به این پروژه‌ها نظر تائید ارائه شد و غرض تصمیم گیری نهایی به کمیسیون اقتصادی راجع گردید.

## د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې ځانګړې غونډه ترسره شوه

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې ځانګړې غونډه د ۱۴۰۳ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. په دغه ځانګړې غونډه کې د کابل ولایت د ارغندي ځلورلارې او چمتلې سیمه کې د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت پر ځمکه د خصوصي سکټور له لوري د ټولګبټ جوړولو پر طرحو بحث وشو. یادې طرحې له هراړخیز بحث وروسته په پرنیسپ کې د تایید وړ وبلل شوې او د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت مسوولینو ته سپارښتنه وشوه، څو په دغو طرحو کې د اړوندو وزارتونو او ادارو اړتیاوې په نظر کې ونیسي او وروسته یادې طرحې د مالي تحلیل په موخه مالیې وزارت ته ولېږي. مالیې وزارت به یې د مالي تحلیل راپور د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې ته وړاندې کړي



## د مالګې پالیسۍ او معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسودو ته د تایید نظر ورکړل شو

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د مالګې پالیسۍ مسوده، د معدني موادو د پروسس او صادراتو د پالیسۍ مسوده او د هلمند ولایت په ښوراب ملکي هوایي ډګر کې د شته سرې خونې د فعالولو موضوعات د بحث لپاره وړاندې شول.

په غونډه کې له هراړخیز بحث وروسته د مالګې پالیسۍ او د معدني موادو د پروسس او صادراتو پالیسۍ مسودو ته د تایید نظر ورکړل شو او اړوندو وزارتونو ته سپارښتنه وشوه، څو د یادو پالیسیو په مسودو کې د اوبو او انرژۍ وزارت نظر ځای پر ځای او د نهایي تصمیم نیونې په موخه یې اقتصادي کمېسیون ته راجع کړي. د هلمند ولایت په ښوراب ملکي هوایي ډګر کې د شته سرې خونې د فعالولو په اړه پرېکړه وشوه چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت د یادې سرې خونې د فعالولو لپاره وړ شرکت انتخاب او قرارداد یې د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي





# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا درې میلیاردو افغانیو په ارزښت ۲۷ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا درې میلیاردو افغانیو په ارزښت د ۲۷ پروژو قراردادونه منظور او د ۷ نورو یې تعدیل کړل.

د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په اوومه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۳۷ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د ۲۷ پروژو قراردادونه منظور، د ۷ تعدیل، د یوې لغوه او دوې پروژې په تدارکاتي پروسو کې د موجودو ستونزو له امله وځنډېدې. د یادو دوو پروژو په اړه تاکل شوو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو یې په تدارکاتي پروسه کې د ملي تدارکاتو کمېسیون له لوري راغلي تعدیلات په نظر کې ونیسي او راپور یې د دغه کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي. په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کابل ښار په ختیځه برخه کې د ترانسپورټي ترمینل جوړول، په کابل کې د جمهوریت روغتون د پاتې چارو بشپړول، د هرات د پاشدان او د فراه د بخش اباد بندونو د پاتې چارو بشپړول، د غزني ولایت د سلطان بند د ساتنې او پاملرنې پروژې بشپړول، د سرپل ولایت د سلطان ابراهیم بند د تفصیلي ډیزاین پروژې پیل، له کابل څخه کندهار ته د برېښنا پایو، سبستېشنونو جوړول او لین غځولو پروژې بشپړول، له کجکي بند څخه کندهار ښار ته د برېښنا مزي غځولو پروژه، په یوشمېر نورو ولایتونو کې د برېښنا په برخه کې د شته پروژو د پاتې چارو بشپړول او د کابل ښار یوشمېر داخلي سړکونو جوړول شاملې دي چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

# ملي تدارکاتو کمېسیون

## د شاوخوا ۲,۵ میلیاردو افغانیو په ارزښت

# اته پروژې

## منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۲.۵ میلیاردو افغانیو په ارزښت د اته پروژو قراردادونه منظور او د ۱۳ نورو یې تعدیل کړل.

د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۲۹ پروژې د بحث لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د اته پروژو قراردادونه منظور، د ۱۳ تعدیل، د دوو لغوه او شپږ پروژې په تدارکاتي پروسو کې د موجودو ستونزو له امله رد شوې. د یادو شپږو پروژو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دنده وسپارل شوه، څو د تدارکاتي پروسو د اصولو په پام کې نیولو سره یې قراردادونه و ارزوي او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي.

په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کندهار ولایت د دهلې بند د ساتنې او پاملرنې چارو بشپړول، د کابل طبي پوهنتون د علي اباد روغتون کې د سرطاني ناروغیو د درملنې مرکز د پاتې چارو بشپړول، د کندهار ولایت په دامان ولسوالۍ او باغ پل سیمه کې د ترانسپورټي ترمینلونو جوړول، د کابل - کندهار لویې لارې د پاتې برخو بشپړول او یو شمېر نورې پروژې شاملې دي چې د اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.



# په بلخ ولایت کې د ســوداګریز مارکېټ جوړولــو طرحه د تایید وړ وبلل شــوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشــتې په ۱۴مه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شــوه. دې غونډې ته پــه بلخ ولایت کې د ارشــاد، حج او اوقافــو وزارت پر ځمکــه د خصوصي سکټور له لوري د ســوداګریز مارکېټ جوړولو او همدا راز د مایــع ګاز صنعت طرحې د بحــث لپاره وړاندې شــوې. په غونډه کې له هراړخیز بحث وروسته په بلخ ولایت کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېســیون ته راجع شــوه. همدارنګه د مایــع ګاز د صنعت په اړه د ایراني پانګوالو له لوري د وړاندې شــوې طرحې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د يادې طرحې پــه اړه له وړاندې کوونکي شرکت سره تخنیکي بحثونه تــرسره او خپل راپور د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته په ټاکلې نېټه وړاندې کړي



# طـرح ایجـاد سیستم واحد
## برای وزارت‌ها و اداره‌های ذیدخل در
# صـادرات مـورد تأیید قـرار گرفت

در جلسۀ نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی که به تاریخ ۲۷ حوت سال ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردیده بود، طبق اجندا در مورد موضوعات ارائه شده بحث صورت گرفت.

پس از بحث همه‌جانبه، طرح ایجاد سیستم واحد برای وزارت‌ها و اداره‌های ذیدخل در صادرات، با در نظرداشت تعدیلات پیشنهادی از سوی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی مورد تأیید قرار گرفت و برای تصمیم گیری نهایی به کمیسیون اقتصادی راجع گردید.

بر اساس این طرح از جعل در اسناد صادراتی جلوگیری خواهد شد، زمان و هزینۀ صادرات کاهش یافته، اعتبار تضمین صادرات افزایش یافته و در مجموع نقش مهمی در افزایش میزان صادرات خواهد داشت.





# د پروژو
# پرانیستي

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند شماری از بخش‌ها در شفاخانه سردار محمد داوود خان را به بهره برداری سپرد

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء به تاریخ دوم حوت سال ۱۴۰۳ خورشیدی شماری از بخش های صحی در شفاخانه ۴۰۰ بستر سردار محمد داوود خان را به بهره برداری سپرد.

در این مراسم محترم مولوی محمد یعقوب مجاهد، سرپرست وزارت دفاع ملی و قاری فصیح‌الدین فطرت، لوی درستیز قوای مسلح امارت اسلامی نیز حضور داشتند.

این بخش‌ها شامل بخش ۱۰۰ بستر تازه تأسیس، شفاخانه‌ای ویژه برای بیماران ملکی و همچنان تحویل دهی کمپ ان کی سی به شفاخانه سردار محمد داوود خان می‌باشند که مجهز به تجهیزات طبی جدید و پیشرفته اند.






# د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي ګروپ له لوري د ځو سترو پروژو په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په دوهمه نېټه د عزیزي ګروپ لخوا د ځو خیریه او سوداګریزو پروژو او همدا راز تعلیمي بنسټونو په پرانیست‌غونډه کې ګډون وکړ. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال یادو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د عزیزي ګروپ له لوري په بېلابېلو برخو کې د مهمو پروژو پیل په افغانستان کې د خصوصي پانګونې په برخه کې یو ستر او مهم ګام دی، چې پر مټ به یې هېوادوالو ته نوي کاري فرصتونه برابر شي، بنسټیزو او اړینو خدماتو ته به د خلکو لاسرسی اسانه او په ټوله کې به د هېواد په ابادۍ کې مهم رول ولري. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد اقتصادي وضعیت ته په اشارې سره وویل، په ټول هېواد کې امنیت تأمین او د لویو اقتصادي پروژو عملي چارې روانې دي او ورځ تر بلې له هېوادونو سره سوداګریزې او دیپلوماتیکې اړیکې پراخېږي چې په راتلونکي کې به نور ښه زیري هم ولرو. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «اطاعت او احترام د اسلامي امارت یو ذاتي اصل دی چې په هر حالت کې به دوام کوي، د اسلامي امارت ټول فکر یوازې د شریعت پر تطبیق، د هېواد پر ابادۍ او د ملت پر سوکالۍ متمرکز دی.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له نړیوالو وغوښتل څو له افغانستان سره مثبت تعامل ته مخه کړي، ځکه اقتصادي او سیاسي فشارونه د هېڅ لوري په ګټه نه دي. د نړۍ په تاریخ کې ثابته شوې ده چې فشارونه تعامل او اړیکو ته لار نه هواروي، دا چاره ملتونه او هېوادونه نور هم سره لیرې کوي او له ټولو څخه د مناسبو اړیکو اصلي مسیر پاتې کېږي. ښه دا ده چې د منل شوو اصولو په چوکاټ کې د متقابلو اړیکو او تعاملاتو مناسبې لارې غوره شي. په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د عزیزي ګروپ مسوولینو ته د یادو پروژو د پیل مبارکي وویله او له ټولو پانګوالو یې وغوښتل چې په خپل هېواد کې پانګونه وکړي، اسلامي امارت دوی ته د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي.

د یادونې وړ ده چې عزیزي ګروپ په کابل کې د سرطاني ناروغیو د تداوۍ ۴۰۰ بستریز معیاري روغتون، د مور او ماشوم د خوندیتوب لپاره ۲۰۰ بستریز زېږنتون، معیاري ښوونځي، د نرسینګ انسټیټیوټ، طبي پوهنتون او د ۲۰۰ میګاواټه په ظرفیت د برېښنا د تولید پروژو عملي چارې پیل کړې.

> په ټول هېواد کې امنیت تأمین او د لویو اقتصادي پروژو عملي چارې روانې دي او ورځ تر بلې له هېوادونو سره سوداګریزې او دیپلوماتیکې اړیکې پراخېږي چې په راتلونکي کې به نور ښه زیري هم ولرو.

# د کابل ولایت ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل

## د جوړېدو چارې پیل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د وري میاشتې په دریمه نېټه د کابل ولایت پغمان ولســوالۍ د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل د جوړېدو چارو د پیل پرانیسته وکړه. په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د ترانسپورټ او هوايي چلند سرپرست وزیر ملا حمیدالله اخوندزاده، د خصوصي سکتور استازو او د سیمې یوشمېر اوسېدونکو هم حضور درلود.

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال په هېواد کې د ترانســپورټي زېربنا د پراختیا پــه برخه کې د ارغندۍ ترانســپورټي ترمینل جوړول مهم وبلل او ویې ویل، د ترانسپورټي زېربناوو معیاري رغول او پراخول د یو هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او د داخلي او ســیمه ییز اتصال لپاره ډېــر مهم او بنســتیز ګام ګڼل کېږي. د محترم ملا صاحب په خبره، له بده‌مرغه په هېواد کې د لسیزو جګړو او فساد له امله دې مهمې برخې ته پام نه دی شــوی؛ بلکې په دې برخه کې شته زېربنا د ټیټ کیفیت له امله تخریب شوې، عامه ملکیتونه د اشخاصو له لوري غصــب او د لویــو لارو او ســړکونو حریمونه کوچني شوي دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د معیاري ترانسپورټي زېربنا ارزښــت ته په اشارې سره وویل، په ترانسپورټي او مواصلاتي زېربناوو کې پانګونه، د غصب شویو عامه ملکیتونو بېرته استرداد، د سړکونو او لارو د اصلي حریم تشخیصول او رغول د افغانســتان اسلامي امارت یو له اساسي او مهمو ملي موخو څخه ګڼل کېږي. په همدې موخه دا دي د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل عملي چارې پیلېږي، چې ۴۲ مهم تاسیسات پکې جوړېږي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اســلامي امارت د وخت د اړتیــاوو او امکاناتو تــه په کتو نه یوازې د ترانســپورټي زېربناوو د رغولو او پراخولو په برخه کې کلک هوډ لري، بلکې د نورو بنسټیزو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو په برخه کې هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

په پای کې د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال ټولو هېوادوالو ته د دې مهمې پروژې د پیل مبارکي ووېله او له قراردادي شرکت څخه یې وغوښتل چې په ښه کیفیت یې چارې په ټاکلي وخت کې بشپړې کړي.

د یادونې وړ ده چې د کابل ولایت د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل په شاوخوا ۹۰۰ جریبه ځمکه کې د یو میلیارد او ۲۸۵ میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي، چې چارې به یې د خصوصي سکټور له لوري په دوو کلونو کې بشپړې شي. د دغــه ترمینل پــه جوړېدو سره به ترانســپورټي اسانتیاوې زیاتې شي، د انتقال اړوند چارو په چټکتیا او غوره تنظیــم کې به مهــم رول ولوبوي، ترانســپورټي لګښتونه او ترافیکي ستونزې به کمې او ډېرو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شي



# ليدني کتني او
# سفـرونـه





### د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال

# د کندهار شوراندام سيمنټو فابريکې

### له کاري بهير څخه ليدنه وکړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۹مه نېټه د کندهار شوراندام سيمنټو فابريکې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دغه فابريکې له ترسره شوو کارونو خوښي څرګنده کړه او اړوندو مسوولينو ته يې د کار د غوره کيفيت او په ټاکلي وخت د بشپړېدو په هکله لازمې لارښوونې وکړې. د دغه فابريکې د جوړولو چارې د کانونو او پټروليم وزارت له لوري خصوصي شرکت ته په قرارداد ورکړل شوې چې اوس يې کارونه په چټکۍ سره روان دي او شاوخوا ۸ ميلیارده افغانۍ لګښت پرې راځي.

د يادې فابريکې په لومړۍ مرحله کې به د سيمنټو توليدي ظرفيت په ورځني ډول ۱۵۰۰ ټنه او په راتلونکي کې به يې د توليد کچه ۵۰۰۰ ټنو ته ورسېږي. د دغه فابريکې په جوړېدو سره به د سيمنټو په وارداتو کې د پام وړ کموالی راشي او ورسره به شاوخوا ۵۰۰۰ هېوادوالو ته په مستقيم او غير مستقيم ډول د کار زمينه هم برابره شي.

د يادونې وړ ده چې اسلامي امارت څه موده وړاندې د يتيم تاق او د لوګر سيمنټو فابريکو د جوړولو قراردادونه هم له افغان او بهرنيو شرکتونو سره لاسليک کړل.



# د کابل او دوحې ترمنځ

## مسافر وړونکو او کارگو الوتنې زیاتېږي

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ کال د سلواغې میاشتې په څلورمه نېټه په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د قطر سفارت له شارژدافیر ښاغلي دکتور مُردِف القاشوطي سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو د کابل او دوحې ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراخولو په اړه خبرې وکړې.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د مذاکراتو پر مهال د قطر له کوربه توب څخه مننه وکړه او د قطر له دولت او پانگوالو یې وغوښتل څو په افغانستان کې د پانگونې له موجودو فرصتونو استفاده وکړي او په دې اړه اسلامي امارت د پوره همکارۍ ډاډ ورکوي. د قطر شارژدافیر ښاغلي مُردِف القاشوطي د خپلو خبرو پر مهال وویل، قطر له افغانستان سره د دوه اړخیزو اړیکو پراخولو ته لېواله دی. ښاغلي القاشوطي زیاته کړه، دوی د دوحې او کابل ترمنځ د مسافر وړونکو او کارگو الوتنو پر زیاتوالي کار کوي او همدا راز به د قطر دولت له لوري په نږدې راتلونکي کې د کندهار په میرویس روغتون کې د ۴۰۰ نویو بسترونو جوړولو کارونه هم عملاً پیل شي. نوموړي وویل، قطر له افغانستان سره په تعلیمي برخه کې همکارۍ ته چمتو دی او همدارنگه به له افغانانو سره د مرستو په موخه په کابل کې د قطر خیریه بنسټ هم فعالیت پیل کړي.

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په افغانستان کې د يوناما له مرستيال سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۱۶مه نېټه په خپل کاري دفتر کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه ماموريت «يوناما» له مرستيال اينډريکا راتوات سره وکتل. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په افغانستان کې د طبيعي پېښو پر مهال زيانمنو افغانانو ته د يوناما له لورې د رسول شوو مرستو څخه مننه وکړه. محترم ملا صاحب له ياد بنسټ څخه وغوښتل چې په افغانستان کې د بشري مرستو په توزيع کې شفافيت رامنځته او خپلې مرستې دې پراختيايي برخو ته واړوي، څو له يوه لوري هېوادوالو ته د کار زمينه برابره او بلخوا ورته د ژوند په مهمو برخو کې اسانتياوې رامنځته شي.

په افغانستان کې د يوناما مرستيال د خپلو خبرو پرمهال وويل، دوی له اسلامي امارت سره په همغږۍ په افغانستان کې خپلو پراختيايي او بشري مرستو، راستنېدونکو افغانانو ته د اسانتياوو برابرولو، د خصوصي سکټور ملاتړ، د کوچنيو او منځنيو کاروبارونو ملاتړ، د وړو پورونو له لارې په کليوالي سيمو کې د کوچنيو کاروبارونو رامنځته کولو او همداراز افغان بزګرانو ته د کوکنارو د بديل معيشت وړاندې کولو په برخو کې خپلو همکاريو ته دوام ورکوي. اينډريکا راتوات زياته کړه، د افغان بزګرانو د ملاتړ په موخه به پر هغوی اصلاح شوي تخمونه او کيمياوي سرې ووېشي، کوچني بندونه به جوړ او کاريزونه به پاک کړي او همدارنګه به نړيوالو سوداګريزو مارکېټونو ته د افغان کرنيزو محصولاتو، صنعتي توليداتو او لاسي صنايعو د رسېدو په برخه کې هم د لازمو اسانتياوو رامنځته کولو لپاره هڅې وکړي.



### د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال

# دقطـــرهېـــواد

## له رئيس الوزراء سره وکتل

د افغانســـتان اسلامي امارت د رياســـت الوزراءاقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قطر هېواد ته د خپل ســـفر په ترڅ کې د ۱۴۰۳ لمريز کال د ســـلواغې مياشـــتې په ۲۵مه نېټـــه د دغه هېواد لـــه رئيس الوزراء ښاغلي محمد بن عبدالرحمن آل ثاني سره وکتل.

په دې کتنه کې د افغانستان او قطر هېواد ترمنځ د اړيکو او اقتصادي مســـائلو او د حکومت او خصوصي سکتور له لوري د پانګونې موضوعاتو په اړه بحث وشو.

# ازبکستان ته

## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سفر



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړی پلاوی د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په څلورمه نېټه له کابل څخه د ازبېکستان پلازمېنې تاشکند ته په دوه ورځني رسمي سفر ولاړ.

د تاشکند نړیوال هوایي ډګر ته له رسېدو سره سم د ازبیکستان د لومړي وزیر مرستیال محترم جمشید خوجه یوف، د افغانستان لپاره د دغه هېواد د ولسمشر ځانګړي استازي محترم عصمت‌الله ایرګاشیف او په ازبیکستان کې د اسلامي امارت سفیر محترم شیخ عبدالغفار بحر له لوري د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي تود هرکلی وشو.

وروسته د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي د ازبیکستان د لومړي وزیر له مرستیال محترم جمشید خوجه یوف سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال دواړو لورو د سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو پر پراختیا او همدا راز په افغانستان کې د ازبیکستاني پانګوالو پر پانګونې خبرې وکړې. ازبیکستاني لوري له کابل سره د سوداګریزو اړیکو پراختیا ته چمتووالی وښود او ویې ویل چې غواړي په همدې موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ په سرحد کې ګډ سوداګریز زون رامنځته کړي. په دغه زون کې به د جلغوزیو او پنبې د پروسس فابریکې، د بسته‌بندۍ او لوجستیک مرکزونه او د

ځينو خوراکـــي توکو د توليـــد کارخونې جوړې شي. همدا راز ازبيکستاني لوري د دغې ليدنې پر مهال په افغانستان کې د صنعت، سيمنټو توليد او نفت او ګازو د اکتشاف او استخراج په برخو کې پانګونې ته لېوالتيا ونښـــوده. د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال يې د پانګونـــې طرحو هرکلـــى وکړ او له خپـــل لوري يې د بشپړې همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

د کب مياشـــتې په څلورمه نېټه ماذيګر مهال د محترم مـــلا عبدالغني برادر اخوند او محترم جمشـــيد خوجه يوف په مشرۍ د دواړو لورو ترمنځ دوهمه غونډه ترسره شـــوه. د دغه غونډې پر مهال د کابل او تاشکند ترمنځ پـــه بېلابېلو اقتصـــادي برخو کې د ګـــډو همکاريو پر پراختيـــا خبرې وشـــوې. د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال له ازبيکستاني لوري وغوښتل څو افغانستان ته د ۵۰۰ کيلو ولټ برېښنا مزي پروژې پاتې چارې او افغـــان – ټرانس پـــروژې عملي چـــارې ژر پيل کړي.

محترم ملا صاحب همدا راز د کابل او تاشکند ترمنځ د اقتصادي اړيکـــو د پراختيا په موخه له ازبيکســـتاني لوري وغوښتل څو د ازبيکستان مرکزي بانک له لوري د بانکي انتقالاتو په برخه کې اسانتياوې رامنځته شي، تاشکند له کابل سره د بانکي سکټور د ظرفيت لوړونې په برخه کې همکاري وکړي، په سوداګريزه راکړه ورکړه کـــې د دواړو هېوادونـــو له ملي پـــولي واحدونو څخه اســـتفاده وشي، په سرحد کې د دواړو هېوادونو ترمنځ ګمرکي سيســـټمونه ژر وصـــل شي، د ګډ بازار لپاره د توکو پـــه انتقال کې افغان ســـوداګرو ته اســـانتياوې رامنځتـــه شي، د افغـــان ســـوداګرو پـــر وړانـــدې ســـوداګريزې اجازه نامې له منځه يوړل شي، هغوی ته



د ویزو د ورکړې په برخه کې سهولتونه رامنځته او د دواړو هېوادونو ترمنځ د هایدرو کاربونونو او کانونو په برخه کې شوې توافقنامې عملي شي. ښاغلي جمشید خوجه یوف په ذکر شوو برخو کې د ازبیکستان له لوري د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل، تاشکند په ټولو اقتصادي برخو کې له کابل سره د ګډ کار کولو لېوالتیا لري.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کب میاشتې په څلورمه نېټه ماښام مهال د ازبیکستان له لومړي وزیر محترم عبدالله عارف اوف سره وکتل. د دغه لیدنې پر مهال د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د شوو توافقنامو پر عملي کولو خبرې وشوې.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پر مهال د اسلامي امارت بهرني سیاست ته په اشارې سره وویل، د ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو په اړه د اسلامي امارت سیاست بې‌طرفه او د نه مداخلې پر اصولو ولاړ دی او له دوی څخه هم همدې اصل ته د ژمن پاتې کېدو غوښتنه لري. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت د نشه‌يي توکو د کر، تولید، کارولو او قاچاق پر ضد جدي مبارزه کړې او ګاونډیو هېوادونو ته یې د هغه د قاچاق مخنیوی کړی دی. اسلامي امارت د ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو پر ضد د افغانستان د خاورې د نه کارېدو ډاډ ورکوي او له دغه هېواد څخه دوی ته کوم تهدید نشته.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د اوسپنې پټلۍ او سړکونو پراختیا مهمه او اساسي موضوع وبلله او ازبیکستاني لوري ته



یې بلنه ورکړه څو د مزارشریف – هرات او له هغه ځای څخه کندهار ته د اوسپنې پټلۍ پروژه کې چې ازبیکستان له ایران او چین سره نښلوي او همدا راز د سالنګ لویې لارې دوهم تونل چې د سیمې په ترانزیټ کې اساسي رول لري، پانګونه وکړي.

د دغه لیدنې پر مهال د ازبیکستان لومړي وزیر عبدالله عارف اوف له افغانستان سره د اقتصادي اړیکو پر پراخوالي ټینګار وکړ او ویې ویل، ازبیکستان د تاشکند او کابل ترمنځ د اقتصادي اړیکو او سوداګرۍ د پراختیا په موخه له ټولو شریکو شوو طرحو ملاتړ کوي او د عملي کېدو له پاره به یې د دواړو لورو تخنیکي ټیمونه خپل کار ته دوام ورکړي.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د خپل سفر په وروستۍ ورځ د کب میاشتې په پنځمه نېټه په ازبیکستان کې له مېشت افغان پانګوالو او سوداګرو سره په تاشکند کې د افغانستان په سفارت کې وکتل. محترم ملا صاحب د اسلامي امارت له لوري افغان پانګوالو ته په ټولو برخو کې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ

او لــه هغوی یې وغوښــتل چې په افغانســتان کې د انرژۍ، کانونو، کرنې، ترانســپورټ، زېربنا، مخابراتو، ټکنالوژۍ او روغتیا تر څنګ په ګڼو نورو سکټورونو کې پانګونــه وکــړي. په ازبیکســتان کې مېشــت افغان پانګوالو او سوداګرو د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د سیاسي او اقتصادي اړیکو د پراختیا ملاتړ وکړ او هر پانګوال له لســو څخه تر ســل میلیون ډالرو پورې په افغانستان کې پانګونې ته چمتووالی وښود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کب میاشتې په پنځمه نېټه په تاشــکند کې د افغانســتان سفارت له نوې ودانــۍ څخه لیدنه وکړه. محــترم ملا صاحب د سفارت مســوولینو ته لازمې لارښوونې وکړې او ټینګار یې وکــړ چې په پــوره حوصلــې او پاملرنــې سره د هېوادوالو ستونزو ته رسېدنه وکړي.

د ریاســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتیال محــترم ملا عبدالغني بــرادر اخوند په مشرۍ د اســلامي امارت لوړپوړی پلاوی ازبیکســتان ته له دوه ورځني ســفر وروسته د ۱۴۰۳ لمریز کال د کب میاشتې په پنځمه نېټه ماسپښین مهال کابل ته راستون شو. محترم ملا صاحب په کابل نړیوال هوایي ډګر کې له رسنیو سره د خبرو پر مهال دغه ســفر له لاســته راوړنو ډک وباله او ویــې ویل چې په مختلفو اقتصــادي برخو کې یې له ازبیکستاني لوري سره ګڼ‌ور مجلسونه درلودل.





# مقالې

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند

# اهمیت راه های ترانزیتی و تجارتی
## در توسعه تجارت

فضل ولی شیرانی

در این مقاله روی راه های ترانزیتی و تجارتی افغانستان، اهمیت شاهراه های ترانزیتی و تجارتی و تلاش امارت اسلامی در ساخت و بازسازی این شاهراه ها بحث شده است.



## مقدمه

افغانستان یکی از ده کشور محصور در خشکی در آسیا به همراه مغولستان، نیپال، جمهوریت لائوس، بوتان، قزاقســتان، قرغیزستان، ترکمنســتان، تاجیکستان و ازبیکســتان اســت. افغانســتان به عنوان یک کشور محصور در خشــکی به جاده هــا و راه های تجارت و ترانزیت نیاز دارد تا بتواند به آب دسترسی داشته باشد و تجارت خود را گســترش دهد. بیشــتر صادرات این کشــور را میوه های خشــک و تازه، قالین، پوســت حیوانات و گیاهان طبی تشــکیل می دهد، بنابراین وجود راه های تجارتی و ترانزیتی برای انتقال صادرات آن بــه بازارهــای جهانــی ضروری اســت. حکومت افغانستان با یافتن و توسعه راه های تجارتی و ترانزیتی قــادر خواهد بود که فرصت هــای اقتصادی جدید را ایجاد کند و سرمایه گــذاران بین المللی را به سرمایه گذاری در بخش های مختلف به ویژه در بخش معدن تشــویق نمایند. با ایــن کار، افغانســتان وارد مرحله جدیدی از اقتصاد خود خواهد شــد. به همین گونه از طریق این راه ها  زمینه برای راه یافتن صنایع دســتی افغانســتان به بازارهای بین المللی فراهم خواهد شد که به رشــد صنایع دستی کمک می کند و در آینده به یکی دیگر از منابع اصلی عواید تبدیل می شود. همه اینها مواردی اســت که می تواند کشــور را به سطوح بالاتر توسعه برساند و افغانســتان را از نظر اقتصادی خودکفــا نماید. در این مقاله بــه راه های ترانزیتی و تجارتی افغانستان، اهمیت آن در تجارت و تلاش های امارت اسلامی در این زمینه اشاره کرده ایم.

## راه های ترانزیتی و تجارتی افغانستان

این یک واقعیت مبرهن است که جاده ها و شاهراه ها نقش مهمی در زندگی اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی کشورها داشــته اند. این شاهراه ها نیازها و مشکلات مردم را در هر زمان و مکان حل کرده اســت. راه های ترانزیتــی و تجارتی زمینه ای را برای انتقال اجناس و مردم فراهم کرده اســت. همان طوریکه رگ های خــون نقش مهمی در بدن انســان دارنــد، راه های ترانزیتی و تجارتی نیز در یک کشــور به همان اندازه مهم و ارزشمند هســتند. شاهراه ها بزرگ ترانزیتی و تجارتی در داخل افغانســتان وجود دارد که می تواند این کشور را به چهار راه آسیا تبدیل کند. یکی از این سرک ها شاهراه کابل – قندهار است. شاهراه کابل - قندهار ۴۸۳ کیلومتر طول دارد و دو شهر بزرگ کابل و قندهار را با هم و چندیــن ولایت را به مرکز  متصل می کند. این شــاهراه بخش مهمی از سیستم تجارت ملی افغانستان است. این شاهراه بین کابل و قندهار کاملاً هموار اســت و از کوه ها نمی گذرد. حدود ۳۵ درصد از جمعیت افغانستان در مسیر این شاهراه بین کابــل و قندهار زنــده گی می کنند. دیگر شــاهراه قندهار - هرات است. این شــاهراه که ۵۵۷ کیلومتر طول دارد، شــهرهای بزرگ قندهار و هرات را به هم وصل می کند. این بزرگ راه بخشــی از یک شــبکه جاده ای بزرگتر به نام «سرک حلقوی» اســت و اولین بار در دهه ۱۹۶۰  ســاخته شد. شــاهراه قندهار – هرات به دو بخش تقسیم شــده که قسمت اول آن از قندهار به گرشک و سپس به هرات می رسد. شاهراه

کابل - جلال آباد یکـــی از جاده های مهم، اقتصادی افغانستان اســت که از کابل آغاز و از کابل- سروبی، تنگه سروبـــی، تنگه لغمان و ولایت لغمان می گذرد و به مرکز ننگرهار شــهر جلال آباد ختم می شــود. از ولایت ننگرهار سرانجام به بندر تورخم می رســد. این بزگ راه تقریباً ۱۵۰ کیلومتر طول دارد. تونل سالنگ یا شــاهراه، جاده ای کوهســتانی اســت که شمال افغانســـتان را به پایتخت کابل، جنوب افغانســـتان و پاکستان وصل می کند. تونل سالنگ در حال حاضر چاریکار و کابــل را در جنوب بــه مزارشریف و کندز متصل می کند. همچنان جاده هرات - غور نیز وجود دارد که ۳۸۰ کیلومتر طــول دارد. سرک هرات - غور یکـــی از پروژه های مهم ملی افغانســـتان اســت که ولایات هرات، غور، بامیان، دایکندی و میدان وردک را بــا کابل وصل می کنــد که نقش مهمی در توســعه تجارت و ترانزیت منطقه ای ایفا خواهد کرد. علاوه بر این، مســیرها و جاده های دیگری نیز در کشور وجود دارد که تا حدودی در تجارت و ترانزیت نقش دارند. از جمله این سرک ها می توان به قندهار – ارزگان، سرک دوم کابل – غزنی، سرک دوم کابل – جلال آباد و دیگر سرک ها اشــاره کرد. عــلاوه بر راه هــای ترانزیتی و تجارتی عمــده در داخل افغانســـتان، تعدادی از راه های تاریخی دیگر نیز وجود دارد که زمانی افغانستان را به قلب آســیا تبدیل کرده بود. یکی از این مسیرها جاده ابریشــم و دیگری بزرگ راه لاجورد است. جاده ابریشم شرق، غرب و جنوب آســیا، شمال آفریقا را به اروپای شرقی و مســیر لاجورد افغانســـتان را به اروپا، خاورمیانه، آفریقا، بالکان و ترکیه متصل می کند. این دو شـــاهراه کوتاه ترین، مطمئن ترین، ارزان ترین و امن ترین مســیر برای تجارت افغانســـتان هســـتند. افغانستان علاوه بر شاهراه های زمینی، دارای خطوط راه آهن فعال نیز می باشــد. راه آهن خواف – هرات، راه آهن سرحدآباد – تورغنـــدی و راه آهن ترمز – مزار شریــف. پلان ها و طرح هایی برای ســاخت راه آهن افغان ـ ترانس و برخی راه آهن های دیگر تهیه شده و کار عملی ســاخت آن در آینده آغاز خواهد شد. از آن جملــه می توان به راه آهن هرات – قندهار – ســپین بولدک اشاره کرد. این شاهراه ها و سایر شاهراه های تجارتی  و ترانزیتی می توانند افغانســـتان را ابتدا به مرزهای خود، ســپس به کشورهای منطقه و در نهایت به جهان متصل کنند. در ادامه با هم در مورد اهمیت شاهراه های تجارتی  و ترانزیتی می خوانیم.

## اهمیت شاهراه های ترانزیتی و تجارتی در تجارت

شاهراه های تجارتی و ترانزیتی در توسعه تجارت یک کشور اهمیت زیادی دارند. این مسیرها همان چیزی است که می تواند افغانستان را به آسیا، اروپا و آفریقا وصل کند و اقتصاد کشورهای این قاره های بزرگ را گســترش دهــد و مفادات آن را مشــترک ســازند. افغانســـتان محصور در خشــکی در مرکز آسیا و اروپا قرار دارد. شــاهراه های ترانزیتـــی و تجارتی منافع اقتصادی قابــل توجهی برای افغانســـتان به همراه خواهــد داشــت و افغانســـتان بــه دلیــل موقعیت جغرافیایی خــود به یک چهــارراه منطقه ای تبدیل خواهد شد. حکومت افغانستان با ساخت این سرک

ها مـــی تواند فرصت های اقتصادی جدید ایجاد کند و سرمایه گـــذاران بین المللی را به سرمایه گذاری در بخـــش های مختلف به ویـــژه در بخش معدن ترغیب نمایند. با این کار، افغانســـتان وارد مرحله جدیدی از اقتصاد خود خواهد شـــد. دیگر اینکه افغانستان یک کشـــور زراعتی اســـت و بیشـــتر مردم آن به زراعت مصروف انـــد، اعمار این سرک ها، مارکیت محصولات زراعتی افغانســـتان را با مارکیت هـــای بین المللی مرتبط می سازد. این دو فایده دارد: از یک سو تجارت گســـترش می یابد و از سوی دیگر وضعیت اقتصادی دهاقین افغانســـتان بهبود می یابد. حکومت با اخذ مالیات می تواند درآمد خود را افزایش دهد. اگر همه شاهراه های زمینی، دهلیز های هوایی و خطوط آهن ساخته شوند، بنابراین درآمد ما چند برابر خواهد شد و تجارت ما به طور کامل رشـــد و توسعه خواهد یافت. این مســـیرها همچنین زمینه را فراهم خواهد کرد تا صنایع دســـتی افغانســـتان به بازارهای بین المللی انتقال شود و این به رشـــد صنایع دستی کمک می کنـــد و در آینده به یکی دیگـــر از منابع اصلی عواید تبدیل می شود. همه اینها مواردی است که می تواند کشور را به سطوح بالاتر توسعه برساند و افغانستان را از نظر اقتصادی خودکفا و یک اقتصاد مســـتقل کند. در اینجا بر آنچه امارت اســـلامی در این زمینه انجام داده است، مروری کوتاه می نمایم.



## تلاش امارت اسلامی در ساخت و بازسازی شاهراه های ترانزیتی و تجارتی

حکومت ها و نظام ها برای رفاه، ثبات و سعادت ملت ها ایجاد شده اند. امارت اسلامی در این زمینه تلاش های گسترده ای برای تأمین زندگی راحت مردم انجام داده و به همین منظور پروژه های اساسی متعددی را برای توسعه کشور راه اندازی کرده است. تعهد امارت اسلامی به بازسازی و توسعه کشور یک ادعا نیست، بلکه واقعیتی روشن و آشکار است که هر روز به چشم خود می بینیم. کار ساختمانی در گوشه و کنار کشور جریان دارد که در تاریخ معاصر افغانستان بی سابقه تلقی می شود. در کنار سایر پروژه های عمرانی، کار بازسازی شاهراه های ترانزیتی و تجارتی کشور نیز در حال انجام است. یکی از این مسیرهای مهم ترانزیتی و تجارتی شاهراه کابل – قندهار است. بازسازی شاهراه کابل - قندهار توسط امارت اسلامی در سال ۱۴۰۲ خورشیدی آغاز شد. این شاهراه عمدتاً توسط سکتور خصوصی و با حمایت مالی امارت اسلامی افغانستان در پنج بخش: چوک ارغندی - بازار دورانی، مرکز غزنی – پش کنده، پش کنده - قلات، قلات - شهر صفا و شهر صفا - مانجه ساخته می شود. در حال حاضر کار ساخت بخش پنجم این شاهراه تکمیل و به بهره برداری رسیده است. کار ساخت سایر قسمت ها ادامه دارد و تلاش می شود تا به زودی تکمیل شود. ساخت سرک دوم در امتداد همین شاهراه از کابل الی غزنی در سال ۱۴۰۳ خورشیدی آغاز شد. علاوه بر این، کار بازسازی اساسی ۸۰ کیلومتر سرک سالنگ در سه فاز آغاز شده و به سرعت در حال پیشرفت است








که علاوه بر بهبود جریان ترافیک بین شمال، مرکز و جنوب کشور، نقش مهمی در توسعه تجارت و ترانزیت نیز دارد. یکی دیگر از پروژه های مهم سرک که در سال ۱۴۰۳ خورشیدی افتتاح شد، اعمار لین دوم سرک کابل – جلال آباد بود. این پروژه در پنجم عقرب ۱۴۰۳ خورشیدی از سوی محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء افتتاح شد.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسمی که به همین مناسبت برگزار شده بود، گفت: سرک دوم کابل-جلال آباد یک پروژه مهم در اتصال داخلی و ترانسپورت زمینی کشور است که دو ولایت بزرگ تجارتی و ستراتیژیک کابل و ننگرهار را در فاصله کوتاهی به هم وصل می کند. اعمار لین دوم شاهراه کابل – جلال آباد باعث کاهش ازدحام در لین اول و کاهش حوادث ترافیکی می شود. همچنان سفر و حمل و نقل را تسهیل می کند، حمل و نقل کالاهای تجارتی را سریع تر، مصؤن تر و کم هزینه تر می کند و کسب و کارهای کوچک و متوسط را در طول مسیر تشویق می کند. امارت اسلامی اقداماتی را در جهت ساخت و بازسازی مسیرهای ترانزیتی و تجارتی عمده از جمله ساخت جاده های حلقوی و ولایات انجام داده است. نمونه های خوب این سرک ها راه هرات - غور و قندهار- ارزگان است. احداث و احیای این جاده ها زمینه را برای اتصال و رشد اقتصادی بین ولایت ها و تسهیلات را برای ساکنان منطقه در رفت و آمد فراهم می کند. خط آهن نیز در جمله‌ی راه های ترانزیتی و تجارتی زمینی قرار می گیرد. در حال حاضر، افغانستان تجارت خود را از طریق برخی خطوط راه آهن فعال انجام می دهد. خط آهن خواف - هرات، خط آهن سرحدآباد - تورغندی و خط آهن ترمز - مزار شریف فعال هستند و روزانه انتقالات صورت می گیرد. با این حال، خط آهن افغان – ترانس که هنوز کار عملی آن آغاز نشده، اما تلاش ها برای آغاز کار روی آن جریان دارد. با اعمار این خط آهن که از ترمز ازبیکستان تا مزارشریف- لوگر افغانستان و از آنجا از خرلاخی پکتیا عبور و از خط فرضی دیورند تا کورمه امتداد می یابد و سپس به شبکه ریلی پاکستان متصل می شود، تجارت کشور را بسیار بهبود می بخشد. امارت اسلامی همچنین دهلیزهای هوایی را برای گسترش تجارت فعال کرده که نمونه بارز آن دهلیز هوایی کابل- شانگهای است. امارت اسلامی به همین جا بسنده نکرده است، بلکه ساخت و بازسازی سرک هایی را که از ولایات و مراکز ولایات تا ولسوالی ها امتداد می یابد، آغاز کرده است.

## نتیجه گیری

علاوه بر سایر بخش ها، یکی از بخش های کلیدی برای یک اقتصاد قوی، بخش تجارت و ترانزیت است. برای رشد و توسعه بخش تجارت و ترانزیت، برای یک کشور مهم است که همه شبکه های ترانسپورتی، دریایی، هوایی، زمینی و خط آهن را به درستی توسعه دهد و از سیستم های عصری در این زمینه استفاده کند. افغانستان یکی از معدود کشورهای جهان است که به آب های آزاد دسترسی ندارد و تنها از شبکه های هوایی، زمینی و ریلی برای ترانسپورت استفاده می کند. واقعیت اینست که این بخش ها به صورت معیاری ساخته شوند. امارت اسلامی در این زمینه به اقدامات خود سرعت بخشیده و اقدامات عملی نیز انجام داده است. ساخت و بازسازی شاهراه ها ترانزیتی و تجارتی زمینی را آغاز کرده است. با اعمار این سرک ها نه تنها تجارت کشور توسعه می یابد، بلکه ترانزیت نیز افزایش می یابد و افغانستان از این طریق عواید بیشتری به دست می آورد.

# افغانستان ته
# د انرژۍ ترانزیټي پروژو ګټې

زاهد خلیلي

### سریزه

افغانستان د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا تر منځ په یو مهم ستراتیژیک ځای کې پروت دی او د دې وړتیا لري چې دواړه سیمې له اقتصادي اړخه ونښلوي. افغانستان کولی شي چې د منځنۍ اسیا د انرژۍ له سرچینو څخه استفاده وکړي او هم د منځنۍ اسیا انرژي د سویلي اسیا هېوادونو ته ولېږدوي. په سویلي اسیا کې د انرژۍ کمښت د دې لامل شوی چې هغه سیمه د خپلې انرژۍ د پوره کولو له پاره د منځنۍ اسیا له هېوادونو څخه انرژي وارده او خپله تقاضا پوره کړي. د افغانستان له خاورې تېرېدونکو پروژو څخه افغانستان ښه اقتصادي ګټه ترلاسه کوي. د تاپي، کاسا زر او تاپ په ګډون نورې پروژې د افغانستان په اقتصادي وده کې مهم رول لوبولی شي. په دې مقاله کې په لنډ ډول د افغانستان ستراتیژیک موقعیت، په سویلي اسیا کې د انرژۍ اړتیا، له منځنۍ اسیا څخه سویلي اسیا ته د انرژۍ د لېږد مهمو پروژو او افغانستان ته یې ګټو ته کتنه شوې ده.



## د افغانستان ستراتیژیک موقعیت

افغانستان د اسیا په زړه کې د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا تر منځ په یو مهم ستراتیژیک ځای کې پروت دی. افغانستان د دې ورټیا لري چې د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا په اقتصادي نښلون کې مثبت رول ولوبوي. افغانستان د منځنۍ اسیا او سویلي اسیا تر منځ شته سوداګرۍ ته لا ډېره پراختیا ورکولی شي. سربېره پر دې افغانستان کولی شي چې د منځنۍ اسیا د هېوادونو انرژۍ لکه ګاز او برېښنا د سویلي اسیا هېوادونو ته ولېږدوي. افغانستان کې د اسلامي امارت له راتګ وروسته اوس دا هیله مندي ډېره شوې چې د افغانستان له خاورې د تېرېدونکو پروژو چارې به په ښه ډول سرته رسېږي. له نېکه مرغه، د تاپي پروژې چارې په چټکۍ روانې دي او د کاسا زر پروژې چارې تر اویا سلنه بشپړې شوې دي.

## سویلي اسیا کې د انرژۍ اړتیا

په نننۍ نړۍ کې انرژي د پرمختګ مهمه وسیله ده. د نفوس زیاتېدل، اقتصادي وده، صنعتي کېدل، ټکنالوژیکي پرمختګونه او ښاري پراختیا په نړۍ کې د انرژۍ د تقاضا د زیاتېدو مهم لاملونه دي. په نړیواله کچه د انرژۍ اړتیا زیاته شوې او دا اړتیا له یو کال څخه بل کال ته لوړېږي. اوبه، ګاز او د ډبرو سکارو د انرژۍ د تولید مهمې سرچینې دي او منځنۍ اسیا په ډېره اندازه دغه سرچینې لري. که له یوې خوا، منځنۍ اسیا د انرژۍ د تولید پراخه سرچینې لري، له بلې خوا بیا د سویلي اسیا دوه لویو هېوادونو (پاکستان او هند) کې د انرژۍ تقاضا زیاتېږي. پاکستان اوسمهال د انرژۍ د کمښت له ستونزې سره مخ دی. دغه هېواد د شاوخوا ۲۵۰ میلیونه نفوس په لرلو سره د نړۍ پینځم لوی نفوس لرونکی هېواد دی، خو له څلورېښت میلیونه ډېر وګړي یې برېښنا ته لاسرسی نه لري او شاوخوا اویا سلنه وګړي یې له طبیعي ګازو لرلو محروم دي. په داسې حال کې چې پاکستان کې هر کال برېښنا او ګازو ته تقاضا ډېرېږي. دغه راز، هند کې هم انرژۍ ته تقاضا د ډېرېدو په حال کې ده. هند په نړۍ کې د انرژۍ درېیم لوی مصرفوونکی هېواد دی. د رسمي شمېرو له مخې، د ۲۰۲۳ کال په جون کې د هند د برېښنا اړتیا ۲۲۳ ګېګاواټه وه چې د ۲۰۲۲ کال په نسبت یې ۳،۴ سلنه زیاتوالی درلود. په ۲۰۳۲ کال کې به د هند د برېښنا اړتیا شاوخوا ۴۰۰ ګېګاواټو ته ورسېږي. هند په چټکۍ د اقتصادي ودې او پراختیا په لور ګامونه اخلي. په راتلونکو لسیزو کې به هند د ګڼ نفوس او اقتصادي ودې له امله ډېرې انرژۍ ته اړتیا ولري او هڅه به کوي چې له کورنیو سرچینو ور اخوا له بهرنیو سرچینو د انرژۍ اړتیا پوره کړي. د منځنۍ اسیا هېوادونه چې د انرژۍ د تولید له اړخه شتمن دي، کولی شي چې د سویلي اسیا د انرژۍ اړتیا تر یوې کچې پوره کړي.

## له افغانستان څخه د انرژۍ د ترانزیټ مهمې پروژې:

له منځنۍ اسیا څخه د افغانستان له لارې سویلي اسیا ته د انرژۍ انتقال یو شمېر مهمې پروژې په پلان کې دي. له دغو پروژو څخه یوه یې د تاپي (ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند) ګازو نللیکه ده چې چارې

یې په ترکمنستان کې پای ته رسېدلې او موده وړاندې یې په افغانستان کې عملي چارې پیل شوې چې تر اوسه یې له لس کیلو مترو څخه زیات پایپ غځول شوی دی. د تاپي پروژې له لارې د ترکمنستان طبعي ګاز د افغانستان له لارې پاکستان او بیا هند ته لېږدول کېږي. بله د کاسا زر پروژه ده چې د منځنۍ اسیا د هېوادونو برېښنا د سویلي اسیا هېوادونو ته لېږدوي. د یادې پروژې له لارې د قرغیزستان او تاجیکستان ۱۳۰۰ مېګاواټه برېښنا افغانستان او پاکستان ته لېږدول کېږي چې ورسره به په دغو هېوادونو کې د برېښنا د کمښت ستونزه تر یو بریده راکمه شي. د افغانستان اوبو او انرژۍ وزارت ویلي چې په افغانستان کې د یادې پروژې چارې اویا سلنه بشپړې شوې دي او پنځه نوي سلنه تجهیزات یې ساحې ته انتقال شوي دي. بلخوا، د افغانستان برېښنا شرکت ویلي چې د روان زېږدیز کال په لړ کې به د کاسا زر پروژه کې د څلورو ښکېلو هېوادونو (قرغیزستان، تاجیکستان، افغانستان او پاکستان) د لوړ پوړو پلاویو په کچه یوه غونډه جوړه شي. تمه کېږي چې په افغانستان کې به د پروژې پاتې چارې تر ۲۰۲۶ کال پورې بشپړې شي. د ټوټاپ (ترکمنستان، ازبیکستان، تاجیکستان، افغانستان او پاکستان) او ټاپ (ترکمنستان، افغانستان او پاکستان) پروژې د برېښنا د لېږد دوه نورې مهمې پروژې دي چې د منځنۍ اسیا د هېوادونو برېښنا د سویلي اسیا هېوادونو ته لېږدوي. منځنۍ اسیا د ګازو او برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري. د یادو ټولو پروژو موخه له شتنمې منځنۍ اسیا څخه د انرژۍ له کمښت سره مخ سویلي اسیا ته د انرژۍ لېږد دی.

## افغانستان ته د انرژۍ پروژو د ترانزیټ ګټې

افغانستان به له منځنۍ اسیا څخه سویلي اسیا ته د انرژۍ د لېږد له پروژو ډېره ګټه ترلاسه کړي. افغانستان له دغو پروژو څخه ګاز، برېښنا، د عوایدو زیاتوالی ، د کاري فرصتونو ایجاد، اقتصادي وده او ګڼې نورې ګټې ترلاسه کولی شي.

**ګاز:** د تاپي پروژه له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او بیا هند ته د ګازو د لېږد یوه لویه پروژه ده چې په کلني ډول به ۳۳ میلیارد متر مکعب طبیعي ګاز لېږدوي. دغه پروژه د افغانستان له خاورې تېرېږي، چې په بشپړېدو سره به یې افغانستان په لومړیو لسو کلونو کې ۵۰۰ میلیون متر مکعب ګاز ترلاسه کوي. دغه کچه به په دویمه لسیزه کې یو میلیارد متر مکعب او په درېیمه لسیزه کې به یو نیم میلیارد متر مکعب ته ورسېږي.

**برېښنا:** افغانستان اوسمهال د برېښنا د کمښت له ستونزې سره مخ دی. افغانستان به د کاسا زر پروژې څخه ۳۰۰ مېګاواټه برېښنا اخلي چې په دې سره به په هېواد کې د برېښنا کمښت تر یوې کچې کم شي. دغه پروژه د هېواد د اوو ولایتونو (کندز، بغلان، پنجشیر، کاپیسا، کابل، لغمان او ننګرهار) له ۳۲ ولسوالیو څخه تېرېږي چې یادو ولسوالیو ته به ترې برېښنا هم ورکړل شي. دغه راز، ټاپ پروژه د هېواد له څلورو ولایتونو (هرات، فراه، هلمند او کندهار) څخه تېرېږي چې د یادې پروژې په مسیر کې پرتو هېوادوالو ته به ترې برېښنا ورکړل شي.

**د عوایدو زیاتوالی:** د افغانستان له لارې له منځنۍ اسیا څخه سویلي اسیا ته د انرژۍ د لېږد له پروژو څخه

به افغانستان د ترانزیټ فیس اخلي. د بېلګې په ډول، د ټاپي پروژې له درکه به افغانستان هر کال شاوخوا ۴۰۰ میلیون ډالر فیس ترلاسه کوي. د کاسا زر پروژې له درکه به افغانستان هر کال ۷۵ میلیون ډالر فیس ترلاسه کوي. دغه راز، افغانستان به د ټاپ پروژې له درکه هم یوه اندازه د ترانزیټ فیس ترلاسه کوي. د یادو پروژو د ترلاسه شوي فیس له امله به د افغانستان د عوایدو کچه زیاته شي او دا به په هېواد کې د اقتصادي ودې پراخوالي کې مهم رول ولوبوي.

**د کاري فرصتونو ایجاد:** افغانستان کې بېکاري یوه ستونزه ده. اسلامي امارت د بېکارۍ کچې کمولو له پاره هڅې کړې دي. د اسلامي امارت په هڅو په هېواد کې د سیمه ییز نښلون د لویو پروژو پیل د بېکارۍ کچې کمولو کې خورا ډېره مرسته کولی شي. د ټاپي او کاسا زر په ګډون د سیمه ییز نښلون نورو پروژو سره په هېواد کې ګڼ کاري فرصتونه رامنځته کېږي. له هغو ولایتونو چې کومه پروژه تېرېږي، د هغې سیمې یو شمېر خلک به په کې په کار بوختېږي چې په دې سره به هېواد کې د بېکارۍ ګراف تر یوې کچې راټیټ شي او د هېوادوالو د اقتصادي وضعیت په ښه کېدو به ښې اغېز ولري.

**اقتصادي وده:** په ټوله کې د افغانستان له لارې سویلي اسیا ته د منځنۍ اسیا د انرژۍ د لېږد پروژو سره به په افغانستان کې اقتصادي وده رامنځته شي. ناخالص کورنۍ تولید به زیات شي. بهرنۍ او کورنۍ پانګونه به جذب شي. په بېلابېلو سکټورونو کې به صنعتي فعالیتونه زیات او د فابریکو په فعالېدو سره به کاري فرصتونه ایجاد او مسلکي او ماهر کارګران به وروزل شي. دغه راز، د هېواد کورنۍ او سیمه ییزې سوداګریزې اړیکې به لا پراخه شي چې دا ټولې کړنې به د افغانستان د اقتصادي ودې په پراخېدو باندې ډېر مثبت اغېز پرېباسي.

## پایله

افغانستان د منځنۍ او سویلي اسیا تر منځ د نښلوونکي پُل په توګه په یو مهم ستراتیژیک موقعیت کې پروت دی چې کولی شي د منځنۍ اسیا انرژي په خوندي ډول سویلي اسیا ته ولېږدوي. د افغانستان په ګډون د سویلي اسیا دوو هېوادونو (پاکستان او هند) کې د نفوس د زیاتوالي او اقتصادي ودې له امله د انرژۍ تقاضا د ډېرېدو په حال کې ده او د منځنۍ اسیا د انرژۍ سرچینې کولی شي چې د هغو هېوادونو یاده تقاضا تر ډېره بریده پوره کړي. د انرژۍ د لېږد یادې پروژې د افغانستان له خاورې تېرېږي چې افغانستان ترې د انرژۍ ترلاسه کولو تر څنګ نورې ډېرې ګټې هم ترلاسه کوي او د یادو پروژو له امله به په افغانستان کې کافي اقتصادي وده رامنځته شي.



# کرنیز سکټور؛

# د پرځان بسیاینې او صادراتو فرصتونه

نجیب‌الله مایار

په دغه لیکنه کې د هېواد په ملي اقتصاد کې د کرنې او مالدارۍ ارزښت، په کرنې او مالدارۍ سکټور کې د شته فرصتونو او د کرنیزو توکو د اوسني وضعیت په اړه بحث شوی دی.



## سریزه

افغانستان د خپل جغرافیوي جوړښت، اقلیم او پریمانه طبیعي سرچینو د درلودلو له امله د کرنې او مالدارۍ په برخه کې زیات فرصتونه لري. کرنه او مالداري د افغانستان په ملي اقتصاد کې ځانګړی رول لري او د هېواد د اصلي اقتصاد یو مهم شاخص دی چې د پرځان بسیاینې او صادراتو په برخه کې حیاتي رول لوبولای شي. شته ستونزو او خنډونو ته په پام سره د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختیا او ودې په موخه د مناسبو کړنلارو او تګلارو جوړول او د فرصتونو پېژندنه مهم دي. د نړیوالو بنسټونو د معلوماتو له مخې د افغانستان اتیا سلنه اوسېدونکي په کرنه او مالدارۍ بوخت دي او د ملي ناخالصو عوایدو ۳۴ سلنه برخه کرنیز محصولات جوړوي. همدارنګه د هېواد د صادراتو ډېره برخه هم کرنیز او د مالدارۍ محصولات دي. نو دې ته په پام سره په هېواد کې د کرنې او مالدارۍ سکټور ځانګړې اهمیت لري. کارپوهان وایي د همدې سکټور په ودې او پراختیا سره افغانستان د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسول کېدای شي.

## د هېواد په ملي اقتصاد کې د کرنې او مالدارۍ ارزښت

د افغانستان د نفوس زیاته برخه په کلیو کې ژوند کوي او د کلیوالو سیمو اقتصاد په کرنه او مالدارۍ ولاړ دی. د خپرو شویو شمېرو له مخې ٦١ سلنه کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتیاوې او عاید د کرنې او مالدارۍ له برخې لاس ته راوړي. د افغانستان د احصایې ملي اداري د مالوماتو له مخې په کرنه، صنعت او خدمات د افغانستان د ناخالص کورني تولید مهمې برخې دي. کرنې او مالدارۍ چې په افغانستان کې په دودیزه توګه د اقتصادي پراختیا لپاره یو شاخص بلل کېږي، د خلکو لپاره د ۴۰ سلنې کاري فرصتونو په برابرولو کې هم خپله فعاله ونډه اخیستې ده. افغانستان اوس د سوداګرۍ نا انډول بیلانس لري چې د صادراتو په پرتله یې واردات څو برابره ډېر دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت د خپرو کړو شمېرو له مخې، د ۱۴۰۳ لمریز کال په لومړیو لسو میاشتو کې د افغانستان د ټولې سوداګرۍ کچه ۱۰,۷۳۲ میلیون ډالره او په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د ټولې سوداګرۍ کچه نږدې ۱۰ میلیارد ډالرو ته رسېده. د ۱۴۰۳ کال د لومړیو لسو میاشتو د ټولې سوداګرۍ څخه ۱,۵۳۳ میلیونه صادرات او پاتې نور یې واردات دي او د ۱۴۰۲ لمریز کال د ټولې سوداګرۍ څخه ۱,۸۱۱ میلیون ډالره یې صادرات او پاتې برخه یې واردات وو. د کورني ناخالص تولید درې مهم شاخصونه صنعت، خدمات او کرنه دي چې د مختلفو دلایلو له امله یې یوه هم په افغانستان کې مطلوبه وده نه ده کړې. افغانستان د کورني ناخالص تولید د کچې زیاتوالي په موخه پر صنعت سربېره د کرنې سکټور پرمختګ ته شدیده اړتیا لري، ځکه چې دلته نږدې دوې برخې نفوس، په میلیونونو جریبه هوارې ځمکې او کافي اوبه د کرنې د پرمختګ او پراختیا لپاره موجود دي. شمېرې ښیي چې د کرنې برخه پر دې سربېره چې د صادراتو ډېره برخه جوړوي، د کاري فرصتونو په برابرولو کې هم تر نورو ټولو سکټورونو او شاخصونو مخکې ده. که څه هم په دې برخه کې مطلوبه پانګونه هم نه ده شوې، خو له دې

ټولو ستونزو سره سره له نورو برخو ډېر بهرني اسعار هېواد ته راوړي. په همدې ډول په کارموندنه کې هم د کرنې سکټور ونډه د پام وړ ده، د احصايې او معلوماتو ملي اداري د شمېرو له مخې په ۱۳۸۷ لمریز کال کې د کرنې ونډه ۷۸ سلنه، د خدماتو ۱٦ سلنه او د صنعت ٦ سلنه وه، خو په ۱۳۸۹ او ۱۳۹۰ لمریز کلونو کې د کرنې دا ونډه ٦۷ سلنې ته راټیټه شوې ده. د هېواد په کرنیز سکټور کې د پانګونې چارې لاهم ټکنۍ دي.

## په کرنیز سکټور کې د پانګونې اړتیا

افغانستان د یوه کرنیز هېواد په توګه د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو له پاره پرېمانه طبیعي سرچینې لري. په دغه هېواد کې د بېلابېلو توکو لکه غنمو، وریژو، سبو، میوې، پنبې، زعفرانو ، هنجې او ګڼو نورو نباتاتو په برخه کې ښه ظرفیتونه شته. همدارنګه د مالدارۍ په برخه کې هم کېدای شي د غوښې، لبنیاتو، هګیو او له همدې توکو جوړېدونکو خوراکي موادو د تولید په برخو کې پراخې پانګونې وشي، خو په تېر کې د یو لړ ستونزو له امله دې برخې ته پام نه دی شوی. په ورته وخت کې د زیربناوو نشتوالی هم یوه ستونزه ده چې که پاملرنه ورته وشي په لږ وخت کې حل مومي. دې ته په پام سره ویلای شو چې د افغانستان د کرنې او مالدارۍ سکتور د پانګونې له پاره ښه ظرفیتونه لري، خو تراوسه پکې لویه پانګونه نه ده شوې او کومه پانګونه چې خصوصي سکټور کړې هم د پام وړ نه ده. څېړونکي وايي کرنه د مخ پر ودې هېوادونو له اقتصاد سره پنځه مهمې مرستې کولای شي. دا مرستې د کاري ځواک رامنځ ته کول، پانګه، بهرني اسعار، د صنعتي برخې له پاره خام مواد برابرول او په کور د ننه د تولید شویو صنعتي توکو له پاره د مناسب بازار برابرول دي. له دې ټولو سره سره په هېواد کې کرنیز سکټور د ودې په حال کې دی او په ځینو برخو کې، پرځان بسیاینې ته نږدې شوی دی.



## په کرنیز او مالدارۍ سکټور کې شته فرصتونه

د ځینو شمیرو له مخې په افغانستان کې د هغو کسانو شمېر چې کار کولای شي ۱۵ میلیونو تنو ته رسېږي چې له دې ډلې یې په ترتیب سره د دغو کسانو له ډلې په صنعت او خدماتو کې د ټولو د کار وړ کسانو لس لس سلنه په کار بوخت دي او اتیا سلنه نور ټول د کرنې او مالدارۍ په سکټور کې کار کوي. له دې شمېرو ښکاري چې په کرنه او مالدارۍ کې شاوخوا ۱۲ میلیونه کسان کار کوي، چې د هېواد د سرې سر عوایدو په ډېروالي کې مهمه ونډه لري او دا کسان یې ډېر خپلو کورنیو ته ډوډۍ برابروي.

## کرنیزه پرځان بسیاینه

د افغانستان کرنه ګڼو برخو کې فرصتونه لري چې که پانګونه پکې ډېره او د خړوبولو او پروسس په چارو کې یې له عصري سیستمونو کار واخیستل شي، کولای شي هېواد پر ځان بسیا او له اړتیا اضافه توکي بهر ته صادر کړي. څو مهمو ته یې په لاندې ډول نغوته کوو:

### غنم:

غنم د افغانستان د اوسېدونکو په اصلي او اساسي غذایي توکو کې راځي. په لمریز کال کې د افغانستان د کرنیزې ځمکې څخه پر ۳۲ سلنه ځمکه غنم کرل شوي وو. په وروستیو څو کلونو کې دوامدارې وچکالۍ، طبیعي پیښو او نباتي آفتونو د نورو کرنیزو توکو په شان د غنمو کروندې هم زیانمنې کړې او په حاصلاتو کې یې د پام وړ کموالی راغلی و. خو د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت وایي، په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د تېرو نورو کلونو په پرتله د غنمو په حاصل کې ډېروالی راغلی دی. په دغه کال کې په هېواد کې پر ۲,۱۲ میلیون هکټاره ځمکه غنم کرل شوي و چې د تېر کال په پرتله یې دکر ځمکه ۴,۷ سلنه زیاته شوې ده. له بلې خوا په دغه کال کې د غنمو حاصلات ۴,۸۳ میلیون متریک ټنو ته رسیدلي چې د ۱۴۰۲ کال په پرتله پکې ۱۰ سلنه ډېروالی ښيي. دا په داسې حال کې چې په ۱۴۰۳ کال کې په هېواد کې ۶,۸۲ میلیون ټنه غنمو ته اړتیا ده چې دې ته په پام دوه میلیون ټنه غنمو کموالی ښيي. د افغانستان د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د معلوماتو له مخې په ۱۴۰۳ لمریز کال کې په ټول هېواد کې په ۱,۳۸



میلیون هکټاره اوبیزه ځمکه او په ۷۳٦ زره هکټاره للمه ځمکه غنم کرل شوي وو. د مخکیني کال په پرتله ۱۴۰۳ کال کې د غنمو په اوبیزه ځمکه کې ۲٫۸ سلنه او په للمه ځمکه کې ۸٫۲ سلنه ډېروالی راغلی دی.

دې ته په پام که د کرنیزو چارو په برخه کې جدي هڅې وشي، نو د هېواد کرنیز سکټور کولای شي د اړتیا وړ غنم په کور د ننه برابر او له بهر څخه یې د واردولو اړتیا پیښه نشي.

---

**وریژې:**

له غنمو وروسته وریژې د افغانستان په مهمو او ارزښتناکه غذایي توکو کې شمېرل کیږي چې تر اوړو وروسته د خوراکي توکو دوهمه درجه اړتیا بلل کېږي او په هغو ولایتونو کې کرل کېږي چې د خړوبولو پرېمانه اوبه لري. په ۱۴۰۳ کال کې په ۱۷ ولایتونو کې شولې (وریژې) کرل شوې وې. شولې معمولا د ثور، جوزا او سرطان په میاشتو کې کرل کیږي او په میزان او عقرب میاشتو کې یې حاصل اخیستل کېږي. تراوسه افغانستان د خپلې اړتیا وړ ټولې وریژې نشي برابرولی او یوه برخه یې له بهرنیو هېوادونو واردوي، خو هڅې روانې دي چې د وریژو د تولید کچه لوړه او د هېواد اړتیا تر ډېره له کورنیو سرچینو پوره شي. په تېرو څو کلونو کې دوامداري وچکالۍ د شولو د کر کچه هم راټیټه کړې ده، خو بیا هم په ۱۴۰۳لمریز کال کې د هېواد په یو شمېر سیمو کې شولې کرل شوې او د تېر کال په پرتله یې په حاصلاتو کې زیاتوالی راغلی دی. ترسره شوې سروې ښیي چې په ۱۴۰۳ لمریز کال کې پر ۱۲۹ زره هکتاره ځمکه شولې کرل شوې چې دمخکې کال په پرتله ۰.۴ سلنه ډېروالی ښیي. په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د ترلاسه شویو وریژو اندازه ۴۳۸ زره مټریک ټنو ته رسېږي چې د تېرکال په پرتله ۹٫٦ سلنه ډېروالی ښیي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت له لوري د خپاره شوي راپور پر بنسټ، په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د هېواد



نفوس ۳۵٫۶۹ میلیون تنه اټکل شوی دی چې د اټکل له مخــې په هېواد کې د وریژو اړتیا شــاوخوا ۷۰۵ زره مټریک ټنو ته رســېږي. اوس که د هېواد اړتیا له ترلاسه شوي حاصل سره پرتله کړو نو لیدل کیږي چې په ۱۴۰۳ لمریز کال کې د هېواد په کچه ۲٦٦ زره مټریک ټنه وریژې کمې دي. اســلامي امارت هڅه کوي چې د وریــژو په حاصل کې هم د پــام وړ ډېروالی راشي او له بهرنیو هېوادونو د هغو د وارداتو کچه ټیټه شي.







## مېوې او سبزیجات:

مېوې او ســبزیجات د کرنیزو محصولاتو مهم توکي بلل کیږي چې د انسان په روغتیا او د هېواد په اقتصاد کې مهم رول لري. افغانستان د مناسب اقلیم او کافي کاري ځواک په لرلو سره د سبزیجاتو د تولید په برخه کې لوړ ظرفیت لري. په وروســتیو کلونو کــې د کال په ځینو فصلونو کې ګاونډیو هېوادونو ته د سبزیجاتو صادرات لوړ شــوي چې د اقتصاد د غوړېدو په برخه کې یو غوره ګام بلل کېږي. افغانستان د نورو کرنیزو محصولاتو ترڅنګ کافي سبزیجات هم لري چې ډېره برخه یې په هېواد کې د ننه مصرفیږي او پاتې برخه یــې بهر ته صادرېږي. د ۱۴۰۳ لمریــز کال په لومړۍ ربعه کې د رســمي ثبت شویو توکو د صادراتو ارزښت ۳۰۰٫۳ میلیون ډالره و چې قاچاق او بیا ځلې صادر شوي توکي په کې نه شاملیږي. د ۱۴۰۳ لمریز کال په لومړۍ ربعه کې د ۱۴۰۲ کال د څلورمې ربعې په پرتله په ثبت شــویو صادراتو کې ۸٫۲ ســلنه ( له ۳۲۷٫۳ میلیون ډالرو څخه ۳۰۰٫۳ میلیون ډالرو ته کموالی راغلی دی. باید وویل شي چې په دې ربعه کې د تــازه او وچو میوو صــادرات د هېواد د ټولو صادراتو ۲۰٫۲ ســلنه او د طبي بوټو صادرات د هېواد د ټولو صادراتو د ارزښت ۱٦٫۷ سلنه جوړوي.

د ۱۴۰۳ کال پــه درېیمه ربعه کې وچه او تازه مېوه د صـــادراتي توکو په ډله کې د ۳۲۱,۹ میلیون ډالرو په ارزښــت تر نورو زیاته ونډه لري او ورپســـې د ۷۹,۳ میلیون ډالرو په ارزښت سبزي، د ٦٧,۳ میلیون ډالرو په ارزښـــت طبي بوټي او د ۳۵,۲ میلیـــون ډالرو په ارزښت معدني توکي په ترتیب دویم، درېیم او څلورم ځای خپل کړی دی.

## زعفران:

زعفـــران چې د افغانســـتان لـــه ارزښـــتناکو کرنیزو محصولاتو څخه ګڼل کېږي، نړۍ کې ځانګړی شهرت لـــري. طبـــي بوټي لـــه ډېرو کلونـــو را پـــه دېخوا د افغانســـتان په ډېرو ولایتونو کې کرل کیږي او بزګران ترې ښـــه ګټه ترلاســـه کوي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت د رســـمي شـــمېرو له مخـــې د ۱۴۰۳ کال په لومړیو ۹ میاشتو کې افغانستان د شاوخوا ۲۹ میلیونه او ۵۸۸ زره ډالرو په ارزښت ۴۲ زره او ۲۰۰ کیلوګرامه زعفران هند، هســـپانیا، سعودي عربســـتان، متحده عربي اماراتو، فرانســـې، اســـټرالیا، ترکیـــې او نورو هېوادونو ته صادر کـــړي دي. په همدې وخت کې د کرنې، اوبو لګولـــو او مالدارۍ وزارت وایي، په ۱۴۰۳ کال کې ۴۰ مټریک ټنه زعفران ترلاســـه شـــوي دي. دغه وزارت وایي په دغه کال کې په ۹۵۰۰ هکټاره ځمکه زعفران کرل شـــوي وو. د کرنـــې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ویـــلي چې په دې کال کې د زعفرانو کښــت ۳۰ ولایتونـــو ته پراخ شـــوی او دا محصول د کوکنارو د بدیل په توګه وړاندیز شـــوی دی. د زعفرانو پـــه تولید کې د نـــورو ولایتونو په پرتلـــه هرات ولایت مخکې دی او ویل کیږي ۹۰ سلنه برابر شوي زعفران له هـــرات ولایت څخه ترلاســـه شـــوي دي. د ځینو کارپوهانـــو په بـــاور که پـــه هېواد کـــې د زعفرانو د کروندګـــرو ملاتړ وشي، افغانســـتان کـــولای شي د نړۍوالو بازارونو له لارې له زعفرانو ښـــه عاید ترلاسه کـــړي. په نړیواله کچـــه افغانســـتان د زعفرانو دوهم تولیدونکی هېواد بلل کېږي چې په پرله پسې ډول د څوکلونو له پاره د ذایقې د نړیوالې موسسې له خوا د افغانســـتان زعفرانو په نړیواله کچه په نړیواله سیالۍ کې لومړی مقام ترلاسه کړی دی.



## پایلــه

افغانستان په اقلیمي لحاظ د کرنې لپاره مناسب هېواد بلل کېږي او ډېرى اوسیدونکي يې پر کرنه بوخت دي. څومره چې دغه سکټور وده کوي، په هماغه اندازه ډېر او باکیفیته کرنیز توکي لاسته راځي. افغانستان د کرنې او مالدارۍ په برخه کې د پرمختګ او پراختیا لپاره خورا ډېر فرصتونه لري چې د مناســبو پلانونـــو په پلې کېدو، په زېربنايـــي برخو کې د پانګونې، د بزګرانو او مالدارانو له پاره د روزنې او ظرفیت لوړونې برنامو په عملي کېدو او د اوبخور سیستمونو په جوړېدو سره دا هېواد کولای شي له خپلو بالقوه ظرفیتونو ښه استفاده وکړي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د شمېرو له مخې په ۱۴۰۳ کال کې افغانستان د غنمو، وریژو او سبزیجاتو په برخه کې ښه حاصلات ترلاسه کړي دي. افغانستان اوس د کرنې سکټور په یو شمېر برخو کې پرځان بسیاینې ته نږدې شوی دی. که د هېواد کرنیز سکټور وغوړېږي او موثرې تګلارې پلې شي نو له یوې خوا به هېواد په کرنیزه برخه کې د اړتیا وړ ډېر توکي په کور د ننه تولید کړي او له بلې خوا به وکولای شي له اړتیا اضافه توکي بهرنیو بازارونو او په تېره بیا د سیمې هېوادونو ته صادر کړي. له شک پرته چې خصوصي ســکټور په دې برخه کې ډېر مهم رول لري چې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي. اســلامي امـــارت د کرنیز ســکټور د ودې او پرمختـــګ په موخه پانګوالو ته د پانګونې اسانه شرایط او ډېرې اسانتیاوې برابـــرې کړې، څو پانګوال وهڅول شي چې په پانګونې سره د کورنیو اړتیاوو په پوره کولو او خلکو ته په کارموندنه کې لا ډېره ونډه واخلي.



# د اداري پروسو د ساده کولو گټې

## او په دې برخه کې د اسلامي امارت هڅې

نجيب‌الله مايار

**په دې ليکنه کې د اداري پروسو په ساده کولو کې د اسلامي امارت د هڅو او د دغه بهير د تطبيق پر ارزښت خبرې شوې دي.**



## سریزه

په امارتي ادارو کې د اداري پروسو ساده کول یوه مهمه مسله ده چې کولی شي د کارونو د ښه والي، د لګښتونو کمښت، د مراجعینو د رضایت او د خدماتو په وړاندې کولو کې د اسانتیاوو د رامنځ ته کولو لامل شي. د پروسو ساده کولو یوه اساسي ګټه په امارتي ادارو کې د کارونو مؤثریت او ګټورتوب دی. ډیرې اداري پروسې پیچلې او وخت نیوونکې دي چې د کارونو اسانتیا پر ځای د کارکوونکو او خلکو وخت او انرژي ضایع کوي. د دې مرحلو په ساده کولو سره، وخت سپما کېږي او بشري منابع په مؤثره توګه کارېدلی شي. د پروسو ساده کول او په تېره بیا الکترونیکي کول د عملیاتي چارو په لګښتونو کې کمښت او د خدماتو په وړاندې کولو کې چټکتیا رامنځ ته کوي. حکومتونه او خصوصي سکټور تل هڅه کوي چې په خپلو خدماتو کې داسې لارې چارې په پام کې ونیسي چې له یوې خوا پکې شفافیت تر ډېره حده رعایت شي او له بلې خوا په لږ وخت کې ډېر کار سرته ورسیږي. د افغانستان په دولتي ادارو کې دا ستونزه له ډېره وخته موجوده وه چې د کارونو د جواز، بېلابېلو اسنادو او نورو مهمو سندونو د ترلاسه کولو په موخه یو کس اړکېده ګڼو دفترونو ته په مراجعې سره لسګونه لاسلیکونه واخلي. په دې سره له یوې خوا د مشتریانو او اړوندو دفترونو وخت ضایع کیږي او له بلې خوا د روڼتیا مخه نیسي او اداري فساد ته لاره هواروي. د افغانستان اسلامي امارت په تېرو درېیو کلونو کې هڅې پیل کړې ترڅو اداري پروسې ساده، شفافې او لنډې کړي او په ځینو برخو کې خو لا دا پروسې الکترونیکي شوې هم دي. غواړو په لنډ ډول یې یادونه وکړو:

## د اداري پروسو په ساده کولو کې د اسلامي امارت هڅې

ټکنالوژي د اوسني عصر داسې پدیده ده چې له شک پرته یې د انساني ژوند ټول اړخونه تر اغېز لاندې راوستي دي. دغه پدیدې د بشر په ژوند کې یو ژور بدلون راوستی. ډېر ناشوني کارونه شوني، اوږدې پروسې لنډې او د کار او زده کړې دودیزې بڼې نوې شوې دي. د ټکنالوژۍ یوه ښېګڼه هم الکترونیکي حکومتولي ده چې په خپل رول سره اوږدې پروسې لنډې او د متراکم بشري ځواک دندې په لږه موده او لږو امکاناتو مخ ته وړي. الکترونیکي حکومتولي د دولت د خدماتو د وړاندې کولو یو عصري سیستم دی، چې د معلوماتي ټکنالوژۍ له لارې د شفافیت، حساب ورکونې، چټک خدمت او د اداري چارو د اسانه کولو لپاره کارول کېږي. د افغانستان په دولتي ادارو کې د اسنادو او نورو تدارکاتي چارو له پاره ډېر پړاوونه په پام کې نیول شوي وو چې له یوې خوا د خلکو او دولت د بشري سرچینو د وخت د ضایع کېدو او له بلې خوا د لګښتونو د لوړېدو لامل کېدل. اوږدې اداري پروسې تر ډېره په اقتصادي برخه کې د خلکو د شکایت لامل شوې وې، د خلکو په وینا د یوه کار د جواز د ترلاسه کولو، مالیو د تحویل او ګمرکي ټکس د سپارلو په برخه کې خلک اړ وو چې څو دفترونو ته مراجعه وکړي، ګڼ لاسلیکونه واخلي او څو ورځې کاغذونه په دفترونو وګرځوي. د افغانستان اسلامي امارت رهبري همدې ستونزې ته د حل موندنې په موخه هڅې پیل کړې چې ډېرې پیچلې دا ډول پروسې لنډې او ساده کړي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند تل په خپلو خبرو کې څرګنده کړې چې اسلامي

امارت د نظام په بېلابېلو ادارو کې اداري پروسې ساده کړې دي او اوس په ځينو برخو کې هغه کارونه په څو دقيقو کې سرته رسيږي چې پخوا به په ورځو کې سرته رسېدل. خلکو ته د آســانتيا په موخه لاهم په اداري پروســو کې د آسانتيا راوستلو هڅې دوام لري. د دې هڅو په لړ کې څه مــوده وړاندې د چارو اداري لوی رياست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې له لــوري د ۱۴۰۴ لمريــز کال لپــاره د امــارتي ادارو حمايوي «تدارکاتو، مالي او اداري» پروســو د ســاده کولو او يو شــان کولو بهير د يوې غونډې په ترڅ کې پرانيســت. د رياســت الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالســلام حنفي د دغه بهير د پرانيستې په مراسمو کې د اداري پروســو ساده کول يو ســتر گام وباله او ټينګار يې وکړ چې اســلامي امارت دا درک کړې چې يو شمېر اداري پروسې بايد ساده شي. د چارو په اداره کې مســوولين وايي تر دې وړاندې د ملکي خدمتونو عادي اداري پروسې ډېرې پېچلې وې او مراجعين به له ډېرو ســتونزو سره مخ وو، خو اسلامي امارت غواړي دا پروسې ساده او خلکو ته اسانتياوې برابرې کړي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداره وايي له تېرو درېيو کلونو را په دېخوا د اداري پروســو د ساده کولو چارې چټکې پرمخ ځي او دغه اداره توانېدلې چې په بېلابېلو وزارتونو او ادارو کې ۹۳۸ اداري پروسې ساده کړي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداره چې پنځه بېلابېل رياستونه لري؛ يو رياست يې د حکومت پــه ټولو وزارتونو او ادارو کې اړتيــا ته په کتو د اداري پروسو ســاده کولو چارې پرمخ وړي. د پروسو د ساده کولو بهير به همداسې روان وي او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداره په پام کې لري چې د ۱۴۰۴ لمريــز کال لپاره د وزارتونو او ادارو يو شــمېر پېچلې اداري پروسو چې تر دې وړاندې يې ارزونه شوې؛ په عملي توګه د ساده کولو بهير پيل کړي، په دې سره به ګڼې پروســې ســاده او خلکو ته به اسانتياوې برابرې شي. پــه افغانســتان کې کــه څه هــم الکترونيکي حکومتــولي ډېره مخينه نه لري، خــو بيا هم د وخت اړتياوو ته په پام سره په دې برخه کې هڅې شوې او په ځينو برخو کې خو لا عملي ګامونه هم اخيستل شوي دي چې په وروستيو کې د اسلامي امارت له خوا دغو هڅو ته پراختيا ورکړل شوې او پياوړې شوې دي چې په لنډ ډول ترې يادونه کوو:

## د پانګونې په چارو کې خلکو ته د اسانتياوو رامنځ ته کول

په هېواد کې د پانګونې او جوازونو د ترلاسه کولو چارې له ډېر پخوا ټکنۍ وې او ډېر شــکايت داو چې اداري پروسې خورا اوږدې او ډېر وخت نيسي. اسلامي امارت همدې ستونزې ته په پام سره د پانګونې په چارو کې د چټکتيــا په موخه د اقتصــادي معاونيت په اډانه کې د پانګونې بين الوزارتي کميټه جوړه کړه، ترڅو د پانګوالو کارونــه په لږ وخــت او يوه ځای کې سر ته ورســيږي. پانګوالو ته د آســانتيا په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شــيخ صاحب حفظه الله د ځانګړي فرمان پر اساس د رياســت الوزراء اقتصــادي مرســتيال د هدايت او د اقتصادي کمېسيون د ۱۴۴۵ هـ.ق کال د دوهمې ګڼې مصوبې پر بنسټ د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټه رامنځته او د ۱۴۰۲ لمريز کال د وږي مياشتې په ۲۵ مه نېټه يې په کار پيل وکړ. دغه کمېټه د اقتصادي معاونيت تر چتر لانــدې فعاليت کوي او موخه يې تر واحد چتر لاندې د کورنــۍ او بهرنۍ پانګونــې د طرحو طــی مراحل، د پانګونې په پروسو کې چټکتيا او شفافيت ايجاد او د

پانګوالو او اړوندو وزارتونو ترمنځ مؤثره همغږي رامنځته کول دي. د پانګونې لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کولو، د چارو د ښه مدیریت لپاره د زمینې برابرولو، د پانګونې پروسو کې د چټکتیا او روڼتیا رامنځته کولو، د امارتي ادارو او خصوصي سکټور ترمنځ د همغږۍ ښه والي او په افغانستان کې د پانګونې پروژو په اړه پانګوالو ته د لازمو معلوماتو چمتو کولو په موخه د شلو وزارتونو او ادارو په غړیتوب جوړه شوې ده. کورني او بهرني پانګوال کولای شي د پانګونې د طرحې ځانګړتیاوو (د طرحې سرلیک، د طرحې د وړاندې کوونکي پانګوال/ادارې نوم، د پانګوال [حکمي/حقیقي شخص] په اړه بشپړ معلومات [د شرکت جواز، آدرس، اړیکې شمېره، برېښنالیک او د استازي د استازولۍ قانوني اسناد]، د طرحې پېژندنه، د طرحې موخې، موخو ته د رسېدو څرنګوالی، د طرحې د پلي کولو لپاره د اړتیا وړ بودیجه او تمویلونکې مرجع، د طرحې د پلي کولو موده او له طرحې څخه د ګټې اخیستنې موده)، په پام کې نیولو سره خپلې طرحې په فزیکي ډول د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي کمېسیون دارالانشاء ته واستوي. او پر دې سربېره یې پر (aiimc@dpmea.gov.af) برېښنالیک او (۰۲۰۲۱۰۰۹۷۶) تلیفون شمېره هم کمیټې ته لېږلی شي.

## د تدارکاتو الکترونیکي سیستم (NPA)

د افغانستان د ملي تدارکاتو ادارې (NPA) د دولتي قراردادونو د شفافیت لپاره الکترونیکي سیستم په ۱۴۰۲ کال کې معرفي کړ. د چارو ادارې مسوولین وایي په دې سره د روڼتیا رامنځته کېدو ترڅنګ په تدارکاتي چارو کې د وخت له ضایع کېدو هم مخنیوی کوي. له دې لارې خلک کولای شي د انټرنیټ له لارې د چارو ادارې د تدارکاتو له ټولو برخو مالومات ترلاسه او د تدارکاتو ادارې پر کاري بهیر څارنه وکړي. په لیرې پرتو سیمو کې خلک د انټرنېټ او د همدغه سیستم له لارې کولای شي د پروژو په اړه مالومات ترلاسه کړي. په هېواد کې ډېری دا اوږدې پروسې د اسنادو او جوازونو د ترلاسه کولو او تدارکاتي برخو کې موجودې وې چې د یوه سند د تر لاسه کولو له پاره اړینه وه چې په څو جلا ادارو وګرځي او د خپلې اړتیا وړ سند او یا جواز ترلاسه کړي، خو اوس ځینې دا پروسې لنډې شوې چې ښه بېلګه یې د اسان خدمت پروژه ده چې د څو ادارو کارونه په یوه محل کې سرته رسیږي او مراجعه کوونکي اړ نه دي چې د خپل سند د ترلاسه کولو په موخه په څو وزارتونو او یا اداري واحدونو وګرځي.

## د مالیې سپارلو الکترونیکي سیستمونه

د افغانستان اسلامي امارت د برېښنایي حکومتولۍ او مالي مدیریت په برخه کې د اسانتیاوو راوستلو په موخه په ګمرکونو او نورو امارتي ادارو کې سیستمونه پلي کړي دي. د دغه بهیر یوه بېلګه په مالیې وزارت کې د مالي مدیریت معلوماتي سیستم (AFMIS)دی چې په وروستیو کې یې پراختیا ورکړې او د مالي چارو مدیریت، کنټرول او راپور ورکولو په برخو کې د لا روڼتیا او اغېزناکتوب رامنځته کولو په برخه کې ستر ګام ګڼل کېږي. دغه وزارت وایي د افمیس نوی سیستم د پخواني سیستم ستونزې لکه ټیټ سرعت، لوړ لګښتونه او تخنیکي محدودیتونه حل کړې دي. پخواني سیستم په

۲۰۰۲ کال کې د فریبلانس شرکت لخوا جوړ شـــوی و، چې ټول تخنیکي واک یـــې د شرکت په لاس کې و. د دغو ستونزو د حل په موخه مالیې وزارت د یو خپلواک او پرمختللي سیســـتم د جوړولو پرېکړه وکړه، چې اوسني شرایـــط او اړتیاوې په نظر کې نیسي. د مالیې وزارت دا نوی سیســـتم پـــه ۱۴ کلیـــدي وزارتونـــو او ۸ ولایتي مستوفیتونو کې په بریالیتوب سره ازمایل شوی دی او د اړوندو مالي سیستمونو سره د نښلېدو وړتیا لري، چې د امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ او همکارۍ پراختیا ته لاره هواروي.

## د صادراتو واحد مرکزونه

ســـوداګرو ته د اسانتیا برابرولو په موخه د هېواد د شپږو زونونو په مرکزونو کې د صادراتو د اسنادو د طی مراحل په موخه د صادراتو واحد مرکزونه هم پرانیســـتل شوي دي. ډېر دا مرکزونه د ســـوداګرۍ او پانګونې خونې ته نیژدې جوړ شوي، ترڅو سوداګر په لږ وخت کې وکولای شي د سوداګریزو توکو د صادراتو پروسه سرته ورسوي. د صادراتو دا واحد مرکزونه په یو شـــمېر ولایتونو کې پخوا پرانیســـتل شـــوي وو او په بلخ او کندوز ولایتونو کې دا مرکزونه څه موده مخکې پرانیســـتل شول. دا مرکزونه د نوښـــتونو د هغې لـــړۍ یوه برخه ده چـــې د صادراتي اسنادو د طی مراحل پروسې د ساده کولو او اسانتیا په موخه پیل شـــوې ده. اسلامي امارت غواړي سوداګرو او پانګه‌والو ته ډېرې اســـانتیاوې برابرې کړي. اســـلامي امارت د برېښنایي حکومتولۍ په برخه کې د خصوصي ســـکټور سره په ګډه په ځینو برخو کې د پانګونې لپاره زمینه برابره کړې ده چې کولای شـــو د عوایدو راټولولو سیســـتم، د جوازونو ورکړې سیســـتم، د ترانســـپورتي وسایطو د سرعت کنټرول سیستم، په ترانسپورتي وسایطو کې د جي پي ایس سیستم نصب، د لوړ تناژ تلو نصبولو سیستم، د باروړنکو موټرو د سکن سیستم او یو شمېر نورو یادونه وکړو.

## دالکترونیکي تذکرو د وېش سیستم پراختیا

د افغانستان احصایې او معلوماتو ملي ادارې (NSIA) له خوا د الکترونیکي تذکرو ویش که څه هم پخوا پیل شوی و، خو دا بهیر ډېر ټکنی و چې د اســـلامي امارت له خوا یې چارې چټکې او ځانګو ته یې پراختیا ورکړل شـــوه. اسلامي امارت د دغه بهیر د لا غښتلتیا په موخه ولایتي ځانګو ته هم یو لړ صلاحیتونه انتقال کړل چې مخکې یې صلاحیت یوازې له مرکزي ادارې سره و. د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د الکترونیکي تذکرو د وېش لړۍ له پیل تر اوسه ۱۵ میلیونه او څه‌باندې ۱۸ زرو کسانو ته الکترونیکي تذکرې وېشـــلې دي، چې ۹ میلیونه او ٦٧ زره یې نارینه او ۵ میلیونه او ۹۵۲ زره یې ښځینه دي. له دې ډلې ۹ میلیونه یې د افغانســـتان اسلامي امارت په حاکمیت کې وېشل شوې دي. اوس د کابل په ګډون په ټول هېواد کې د الکترونیکي تذکرو او اسان خدمت ۷۳ وېش ځانګې او یو ګرځنده ټیم او په متحده عربي اماراتو کې د اسان خدمت یو مرکز فعال دی چې هره ورځ اړوند خدمتونه وړاندې کوي.

## د اداري پروسو د ساده کولو ګټې

په دولتي ادارو کې د پروســـو د ساده کولو مهمې ګټې د کارونو مؤثریت، د لګښـــتونو کمول او د وخت ښـــه مدیریـــت دی. ډېرې اداري پروســـې پیچلې او وخت نیوونکې دي، چې د کار د اســـانتیا پر ځای د خلکو او کارکوونکو وخت او انرژي ضایع کوي. په ډېرو مواردو

کې پیچلې او اوږدې پروسې د اداري فساد لپاره زمینه برابروي. کله چې د یوې پروسې په مختلفو پړاوونو کې څو ځلې تایید او پیچلو تعاملاتو ته اړتیا ولري د فساد امکان لوړېدلای شي. د دې پروسو ساده کولو او د هغو مرحلو په لیرې کولو سره چې اړتیا نه لري، کېدای شي دا زیان کم او په اداري چارو کې شفافیت زیات شي.

د پروسو ساده کول د کارونو په چټکتیا کې مهم رول لري او ډېر ځله اداري پیچلتیاوې د خلکو د ناخوښیو لامل کېږي. د پروسو په ساده کولو سره، خدمات چټک او دقیق تر خلکو رسیدلی شي چې دا د خدماتو په موثریت کې مرسته کوي. پیچلې او اوږدې اداري پروسې معمولا لګښتونه زیاتوي، ځکه چې کارونه ډېر وخت نیسي او د دې پروسو د مدیریت لپاره زیاتو کارکوونکو ته اړتیا وي. د پروسو په ساده کولو سره، اضافي لګښتونه کمیدلی شي. د پرېکړو چټکتیا د پروسو ساده کولو یوه بله ګټه ده. کله چې پروسې پیچلې او څو مرحلې په بر کې ونیسي، ممکن پرېکړې ډېر وخت ونیسي، چې دا چاره د دولت او خلکو دواړو په ګټه نه ده، خو د پروسو په ساده کولو سره، پرېکړې چټکې او په مناسب وخت کې کېږي. نړۍ په چټکۍ سره بدلیږي او حکومتونه هم له دې بدلونونو سره ځان عیاروي. پیچلې پروسې عموماً له بدلونونو سره د مطابقت لازم انعطاف نه لري. خو کله چې پروسې ساده او روښانه وي، حکومتونه کولی شي له نویو شرایطو سره ځان عیار او بدلونونه په مؤثره توګه په اداري سیستمونو کې ځای پر ځای کړي. د اداري پروسو ساده کول نه یوازې د اوسني وضعیت د ښه کولو له پاره ګټور دي، بلکه د نوښتونو لپاره زمینه برابروي. د پیچلو اداري خنډونو لیرې کول د نوو لارو او پرله پسې پرمختګ لپاره زمینه برابروي. ساده پروسې عموماً روښانه وي، کله چې د کار مختلف پړاوونه واضح او دقیق تعریف شي، د نظارت او حساب ورکولو پروسه هم اسانه کیږي. دا روڼتیا کولی شي د فساد، درغلۍ او غلطیو مخه ونیسي او حکومت د دې جوګه ګرځوي چې خپل فعالیتونه دقیقاً و ارزوي.

## پایله

په دولتي بنسټونو کې د اداري پروسو ساده کول نه یوازې د پیچلتیاوو او لګښتونو د کمولو په برخه کې مهم دي، بلکې د دولتي ادارو د فعالیتونو ښه کولو او د خلکو په خوښ ساتلو کې هم مرسته کوي. د دې ګټو په پام کې نیولو سره، حکومتونه تل هڅه کوي چې خپلې اداري پروسې ساده او له خپلو سرچینو څخه په مؤثره توګه استفاده وکړي. د افغانستان اسلامي امارت د دې موضوع په درک سره له تېرو دربیو کلونو را په دېخوا ډیرې پیچلې اداري پروسې ساده کړې او لاهم کار دوام لري چې په نوي لمریز کال کې د ساده شویو اداري پروسو شمېر د اوس په پرتله څو برابره لوړ کړي. په دې سره به هم د دولت سرچینې پرځای او په اغیزناک ډول ولګول شي او هم به د مراجعینو د وخت د ضایع کېدو او سرګردانۍ مخه ونیسي. پر دې سربېره د حکومتولۍ په پروسو کې د ټکنالوژۍ استفاده د وخت یوه جدي اړتیا ده چې افغانستان هم د نړیوالو پرمختګونو څخه د استفادې په موخه په عملي توګه له ټکنالوژۍ څخه په بېلابېلو برخو کې استفاده کړې او لا هم دا بهیر پرمخ ځي. د ټکنالوژۍ څخه په استفادې سره به له یوې خوا کاري پروسې چټکې او د وخت د ضایع کېدو مخه به ونیول شي او له بلې خوا به د بشري سرچینو څخه هم اعظمي استفاده وشي.

# د نیالګیو کښېنولو اهمیت ته ځغلنده کتنه

لیکوال:
**ډاکتر فاروق اعظم**
د اوبو او انرژۍ وزارت ستر سلاکار

په دې لیکنه کې د هوا د کیفیت د ښه کولو، د ځمکې تودوخې کمولو، د نیالګیو د ګټو او د هغه د اړتیا او ارزښت په اړه خبرې شوې دي.



ژمی تیر شو او دادی پسرلی شــو. ځمکه نوی ژوند او بزګران نوي کارونه پیلوي. پسرلی د نیالګیو کښېــنولو موسم دی. حکومت او خلک باید د نیالګیو کښېنولو ته ډېره توجــه وکړي. د نیالګي کښېــنول نــه یوازې د چاپېریال ســاتنې لپاره اړیــن دي، بلکې د ځمکې د تودوخې کمولو او د اوبــو د کچه لوړولو لپاره هم ګټور دي. د نیالګیو کښېــنول د هــوا د ککړتیا په کمولو، د اکســیجن د تولید، او د ککړو ګازونــو په جذبولو کې مرسته کوي چې دا ټول د یوې پاکې او صحتمندې هوا لپاره اړین دي. د نیالګیو کښېنولو ځینې مهمې ګټې دادي:

**د هوا کیفیت ښــه کول:** نباتات او ونې د فوتو سنتیز عملیې له لارې کاربن ډای اکســایډ له هوا جذبوي او اکسیجن تولیدوي. اکســیجن د ژوند لپاره ډېر ضرور دی. د نیالګیو په کښــېنولو سره د هوا اکسیجن اندازه ډېرېږي، دهوا په پاک ســاتلو کې مرسته کوي چې د انســانانو او حیواناتو د تنفس لپاره مهم دی. نباتات د هــوا او غازاتــو توازن ســاتي او د اقلیمــي بدلون په مخنیوي کیط مرسته کوي.

**د هوا د ککړتیا مخنیوی.** د نباتاتو پاڼې او څانګې په هوا کې مضر ذرات لکه دوړې، سګرټ یا نور کیمیاوي مواد جذبــوي او پاکوي یې. په دې ډول د هوا کیفیت ښه کیږي.

**د اوبو د تبخیر کنترول.** نباتات او ونې اوبه تبخیروي او په هوا کې د رطوبت کچه زیاتوي. دا کار د حرارت د کموالي سره مرسته کوي، ځکه چې د رطوبت زیاتوالی د هوا د تودوخې د لوړولو مخه نیسي.

**د اوزون طبقې ساتنه:** نباتات د هوا ککړونکي غازونه لکه نایتروجن اکســاید او ســلفر ډای اکساید چې د اوزون طبقه تخریبوي، جذبوي او په دې ډول هوا صافه او د اوزون طبقه سالمه ساتي.

**د ځمکې د تودوخې کمــول:** ونې او نباتات د هوا د تودوخې په کمولو کې مهم رول لري. په ځانګړې توګه په ښــارونو کې، چیرې چې د تودوخې کچه لوړه ده. د نیالګیو کښېنول د تودوخې د کمولو لپاره غوره لاره ده.

**د اوبو ســاتنه:** ونې او نباتات په ځمکه کې د اوبو په ســاتلو کې مهم رول لوبوي. نباتات او ونې د ځمکې د لاندې اوبو جذبولو لپاره خاصې ریښې لري چې د اوبو ذخیره کولو کې مرسته کوي. دا ریښې نه یوازې د اوبو د جذبولو کار کوي، بلکې د اوبو د کموالي په وخت کې دا ذخیره شــوې اوبه نباتاتو ته ورکوي چې د ځمکې د وچوالي مخه نیسي.

**ځمکې د خاورې ساتنه:** د نیالګیو کښېنول د خاورې په ټینګولو کې مرسته کوي، خصوصاً په هغو سیمو کې چې د بارانونو یا د بادونو له امله خاوره سستېږي.

**د ځنګلي حیواناتو پایښــت:** نیالګي یا ونې د ځنګلي حیواناتو د ژوند لپاره پناه ځای او د خوړو سرچینه برابروي. دا د حیواناتو او حشراتو د بقاء او ډېریدو لپاره مهم دي.

**ذهني او فزیکي ګټې:** د نیالګیو کښېنول انسانانو ته هم ګټــور دي. د دې کار له لارې انســانانو ته تفریح ځایونــه ډېرېږي چــې د روحي ســکون او د فزیکي فعالیت د ودې لپاره مهم دي.

اســلام چاپیریال ســاتنې ته ډېره توجــه کړېده. په قرآنکریــم کې نباتاتو او د هغــوی د اهمیت په اړه ګڼ ایاتونه شته چې نباتاتو او د هغوی ارزښت و اهمیت ته اشاره کوي، د هغوی د تولید او انسانانو ته د ګټو په اړه

خبرې کوي. نباتات نه يوازې د انسانانو د اړتياوو پوره کولو لپاره مهم دي، بلکې په قرآنکريم کې د الله عزوجل د نعمتونو په توګه ياد شويدي. د نباتاتو او چاپېريال ساتنې په برخه کې ډېر آياتونه شته چې يو څو يې دادي:

«وَٱللَّهُ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأٓيَـٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَسۡمَعُونَ – الله هغه ذات دی چې اوبه له پاسه راتويوي او په هغه ځمکه ژوندی کوي. يقينا په دغه کې د هغه ولس لپاره چې غوږ نيسي لويې نښې دي - الروم: ۳۷». يا فرمايي:

«هُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً لَّكُم فَأَمۡبَتۡنَا بِهِۦ جَنَّـٰتٖ ذَاتَ بَهۡجَةٖ وَزَرۡعًا وَنَخِيلًا وَأَعۡنَابًا وَمِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ - هغه الله دی چې تاسو ته له پاسه اوبه راتويوي، بيا له دې اوبو څخه موږ تاسو ته ښکلي باغونه، د کښت ځمکې، د خرما او انګورو ونې او هر ډول مېوې پيدا کوو. په دې کې د هغه ولس لپاره چې تفکر کوي لويه نښه ده - النحل: ۱۰». او فرمايي:

«وَفَجَّرۡنَا ٱلۡأَرۡضَ عُيُونٗا فَٱلۡتَقَى ٱلۡمَآءُ عَلَىٰٓ أَمۡرٖ قَدۡرٖ - او موږ له ځمکې د اوبو چينې راوايستې، بيا دغه اوبه (د اسمان د اوبو سره په يوه معقوله طريقه) د ضرورت په اندازه سره يوځای شوې- قاف: ۹».

زه ګران وطنوال هڅوم چې زموږ او زموږ د اولادونو د روغتيا او د يوه پاک چاپېريال د درلودلو په منظور، په اوسني پسرلي کې هم خپله نيالګي کښېنوي او هم د حکومت د مختلفو ادارو سره چې د نيالګيو کښېنولو په برخه کې کار کوي، د زړه له کومې همکاري وکړي.



وزارت زراعت، آبیاری و مالداری در سال ۱۴۰۲ و ۱۴۰۳ خورشیدی

# ۱۰۹ چیکدم کوچک و بزرگ

را در ولایات مختلف کشور ساخته است



**تعداد:**

۱۰۹

**نوعیت:**

کانکریتی، سنگی
و خاکی

**ولایات:**

جوزجان، بدخشان، قندهار، فاریاب،
بامیان، لغمان، ننگرهار، ارزگان، تخار،
زابل، پکتیکا و دایکندی

**تمویل کننده:**

امارت اسلامی افغانستان

**هزینه:**

حدود
۲۵۵
میلیون افغانی

**یادداشت:**

امارت اسلامی افغانستان روند ساخت چیکدم های بزرگ و کوچک را در سرتاسر کشور آغاز کرده است، به‌ویژه در مناطقی که خشکسالی‌های اخیر آن را متضرر ساخته و در آن سطح آب‌های زیرزمینی کاهش یافته است.

## د ریاست‌الـوزراء اقتصادي معاونیت له لـوري په ۱۴۰۳ لمریز کال کــې

# د کوچنـــي مقیاس ۲۵ د کان کیندنـــې پروژې

## منظـورې شوې دي

۰۱ د غــور ولایت د تولک ولسوالۍ د زلیچه سیمــې د تراورټین ډبرو پروژه

۰۲ د هـــــرات ولایت د چشت شـریف ولسوالــۍ د جرتاخومک سیمې د مرمر ډبرو پروژه

۰۳ د بامیان ولایت د یکاولنگ ولســـوالۍ د سرب او جستو د دوو بلاکونو پروژې

۰۴ د میدان وردگ ولایت د قـــول خویش ساحـــې د تراورټین ډبرو پروژه

۰۵ د بامیان ولایت د یکاولنگ ولسوالۍ د سر سرخک د سرب او جستو پروژه

۰۶ د ارزگان ولایت د خاص ارزگان ولسوالۍ د کندلان سیمې د مرمر ډبرو د دوهم بلاک پروژه

۰۷ د سمنگان ولایت مرکز کې د تخت رستم سیمې د چونې ډبرو د دربیم بلاک پروژه

۰۸ د سمنگان ولایت مرکز کې د سنگ شکن او تاش کوتل سیمې د چونې ډبرو د اول بلاک پروژه

۰۹ د ننگرهار ولایت د گوشـــتي ولسوالۍ د یارگي او خوره ناو سیمې د نفرایټ ډبرو پروژه

۱۰ د کاپیســا ولایت د تگاب ولسوالۍ د ولگي سیمې د نفرایټ ډبرو د څلورم بلاک پروژه

۱۱ د ننگرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ د کودیخیلو دوهمه محدوده د مرمر ډبرو پروژه

۱۲ د ننگرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ د کودیخیلو دربیمه محدوده د مرمر ډبرو پروژه

۱۳ د ننگرهار ولایت د سپین غر ولسوالۍ د اسدخیلو توتگي سیمې د مرمر ډبرو پروژه

۱۴ د ننگرهار ولایت د شـــیرزادو ولسوالۍ د لده‌باغ سیمې د مرمر ډبرو پروژه

۱۵ د کونړ ولایت د خاص کونړ ولسوالۍ د ادروتنگي سیمې د نفرایټ ډبرو پروژه

۱۶ د ننگرهار ولایت د حصارک ولســـوالۍ د کنجکي سیمې د سرپنټین ډبرو پروژه

۱۷ د هرات ولایت د گذرې ولســـوالۍ د پیر ســـرخ سیمې د گچ ډبرو پروژه

۱۸ د لغمان ولایت د مرکز مهترلام د پنج پای سیمې د بیوتیت لرونکې گرانیټ ډبرو پروژه

۱۹ د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ د جرغاتي کلي د سران سیمې د نفرایټ ډبرو پروژه

۲۰ د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د گزک سیمې د مرمر ډبرو د دربیم بلاک پروژه

۲۱ د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د گزک سیمې د مرمر ډبرو د ۱۹م بلاک پروژه

۲۲ د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د گزک سیمې د مرمر ډبرو د ۲۱م بلاک پروژه

۲۳ د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د گزک سیمې د مرمر ډبرو د ۴۵م بلاک پروژه

۲۴ د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ د گزک سیمې د مرمر ډبرو د ۴۴م بلاک پروژه

۲۵ د ننگرهار ولایت د خوگیانو ولسوالۍ د وزیر ټټنگ سیمې د گچ ډبرو د څلورم بلاک پروژه

www.dpmea.gov.af

DURING THE YEARS 1402 AND 1403 SH, THE MINISTRY OF RURAL REHABILITATION AND DEVELOPMENT COMPLETED

# 64 ALTERNATIVE PROJECTS TO CHECK DAMS

## TYPES OF ALTERNATIVE PROJECTS:

*Agricultural canals, water reservoirs, weirs, retaining walls, and some other projects*

## OBJECTIVES OF THE ALTERNATIVE PROJECTS:

*Providing clean drinking water to the people, supplying water to agricultural lands, and protecting homes and agricultural lands from floods*

## STATUS OF THE ALTERNATIVE PROJECTS:

*Completed*

## TOTAL COST:

*Approximately 97 million Afghanis*

## SPONSOR:

*Islamic Emirate of Afghanistan*

**Provinces and Number of Projects:**



*Baghlan (13)*
*Balkh (1)*
*Parwan (13)*
*Paktia (11)*
*Zabul (3)*
*Kapisa (11)*
*Kunduz (2)*
*Nuristan (10)*

dpmea.gov.af

During the years 1402 and 1403 SH, the Ministry of Rural Rehabilitation and Development constructed

# 79 CHECK DAMS

**Types of Check Dams:**
*Concrete, stone masonry, and earthen*

**Purpose of constructing the check dams:**
*To recharge groundwater, prevent floods, store rain and snow water, and reduce the impacts of drought*

**Status of the check dams:**
*Completed*

**Total cost:**
*Over 317 million Afghanis*

**Sponsor:**
*Islamic Emirate of Afghanistan*



**Provinces**
**and the number of check dams constructed:**

*Badghis: 9, Zabul: 10, Baghlan: 4, Sar-e Pul: 7, Farah: 10, Kunduz: 7, Balkh: 9, Herat: 16, Nimroz: 3, Paktia: 4*



dpmea.gov.af

APPROVAL OF

# 11 LARGE-SCALE MINING PROJECTS

FOR THE YEAR 1403

by the Deputy PM for Economic Affairs Office



1 Yatim Taq Cement Project – Jawzjan Province



2 Maymana Salt Mine Project – Faryab Province



3 Darzab Salt Mine Project – Jawzjan Province



4 Andkhoy Salt Mine Project – Faryab Province



5 Marble Stone Project in Dara-e-Noor, Shah Wali Kot – Kandahar Province



6 Chromite Deposit Expansion Project – Logar Province



7 Taymani Laman Coal Project – Badghis Province



8 Gas Fields Project in Kushk and Torghundi – Herat Province



9 Toti Maidan Gas Project – Faryab Province



10 Loy Zangal Gas Project – Jawzjan Province



11 Altamur Cement Project – Logar Province



## 6. Opportunities for Foreign Investment in Infrastructure Projects:

1. The Afghan Trans Railway project, connecting Central Asia to South Asia, is one of the significant projects. We request its speedy advancement according to the plan.

2. If Uzbekistan is prepared to invest through public-private partnerships in projects such as the Mazar-e-Sharif–Sheberghan railway, the Naibabad logistics center, and other infrastructural projects, the Islamic Emirate of Afghanistan is fully ready to cooperate.

3. Additionally, we invite Uzbekistan to invest in the second Salang Tunnel, which connects Central Asia to South Asia and plays a vital role in transit. The Islamic Emirate welcomes and supports such investments. Similarly, we extend an invitation to Uzbekistan to invest in the railway project connecting Mazar-e-Sharif to Herat, facilitating its trade with Iran and China, which will play a constructive role in regional stability and development.

4. We request Uzbekistan to significantly reduce transportation costs (tariffs) for goods transported via the China-Kazakhstan-Uzbekistan-Afghanistan railway. This reduction will lower overall goods costs and strengthen mutual trade.

5. The Islamic Emirate of Afghanistan has created opportunities for domestic and foreign investment in textile factories, cement production, oil refineries, salt mine extraction and processing, e-governance, and other sectors. Given Uzbekistan's experience and interest in these areas, we welcome and request its investment. Sharing modern agricultural techniques, managing water resources effectively, and providing advice for agricultural development will also play a vital role in educating Afghan farmers and mechanizing agriculture.

In conclusion, I once again emphasize the importance of addressing the above-mentioned issues and providing assurances for finding suitable solutions to the existing challenges.

With respect,

***After the two-day visit to Uzbekistan, the high-level delegation of the Islamic Emirate led by Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund returned to Kabul on the afternoon of February 23, 2025. Speaking to the media at Kabul International Airport, he described the visit as fruitful and stated that they had held productive meetings with the Uzbek side in various economic sectors.***

## 2. Issues Regarding Border Customs Systems and Joint Markets:

1. Considering that customs operations at the Uzbekistan border have been operational 24 hours and the system integration is ongoing, we request that the integration process be expedited, requiring your special attention.

2.Afghan traders face challenges in transporting goods to the joint market between Afghanistan and Uzbekistan. We request that these challenges be resolved to further strengthen trade relations between the two countries.

3. Additionally, the double taxation agreement has been sent to you through official channels. We hope it will soon be finalized to create more facilities for traders.

## 3. Issues Related to Permits, Visas for Afghan Traders, and Export Controls:

1. Afghan traders face challenges in obtaining permits for trade with Uzbekistan, preventing them from easily exporting their goods. Eliminating these permit requirements would reduce negative impacts on trade between the two countries, as similar requirements are not imposed for goods from other nations.

2.To strengthen trade relations between Afghanistan and Uzbekistan, the visa issuance process for Afghan traders should be expedited to address their challenges and encourage further trade.

3.Increased inspection and control of Afghan export goods by Uzbekistan have been observed, with locks on all transit goods being individually broken. We request facilitation in this matter or alternative solutions to be identified.

## 4. Implementation of Agreements on Hydrocarbons and Mines:

Two agreements regarding hydrocarbons and minerals have been signed with Uzbekistan, but their practical implementation has not yet commenced. We request that the necessary steps be taken as per the agreements.

## 5. Electricity Transmission and Production Projects:

1. Documents related to the 500 kV electricity transmission line project with Uzbekistan have been completed and shared. We request the prompt initiation of practical work on this project.

2. As a proposal, I would like to mention that Afghanistan has sufficient coal reserves. If Uzbekistan is interested in investing in electricity production from coal, we will provide the necessary facilities for such projects.

## Speech of Deputy PM Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund on the Occasion of Meeting the Deputy Prime Minister of Uzbekistan

In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.

To the esteemed Deputy Prime Minister of the Republic of Uzbekistan, the honorable members of the Uzbek cabinet, officials, and all attendees:

Peace, mercy, and blessings of Allah be upon you.

I pray to the Almighty for the good health and well-being of everyone present.

It is indeed a matter of great joy that today we are gathered in the capital of our friend country, Uzbekistan. First and foremost, I extend my best wishes and gratitude for facilitating this opportunity to discuss several mutual and significant issues between Afghanistan and Uzbekistan.

It is evident that Uzbekistan is one of the neighboring countries that shares close religious, historical, cultural, and ethnic ties with Afghanistan. These foundational commonalities have had a profoundly positive impact on the trade relations between Uzbekistan and Afghanistan throughout history, increasing commercial interactions and investment opportunities between the two nations.

Since the re-establishment of the Islamic Emirate of Afghanistan, trade relations between the two countries have been steadily growing and strengthening. The Islamic Emirate of Afghanistan views the excellent reciprocal relations between the two nations positively and is prepared to foster further cooperation and collaboration with Uzbekistan in the fields of trade and investment in the future.

Below, I briefly highlight some key issues between Uzbekistan and Afghanistan to pave the way for technical discussions and decisions:

### 1. Topics Related to the Banking Sector:

1. We request that the procedural steps for bank transfers between Afghanistan and Uzbekistan be expedited to enhance commercial convenience and prevent delays in relevant transactions.

2. If, at the request of Afghan banks, relevant transfers to other countries are conducted through the mediation of Uzbek banks, it will contribute to the development of our banking sector and mutual banking relations.

3. To strengthen the reciprocal banking ties between Afghanistan and Uzbekistan, the Central Bank of Uzbekistan should provide relevant facilities to eliminate certain restrictions and enhance relationships between the banks of both countries.

4. It would be preferable to use the national currencies of both countries in trade relations between Afghanistan and Uzbekistan.

5. Cooperation by Uzbek banking experts in capacity building for Afghanistan's banking sector would be beneficial in improving our sector's capabilities.

importance to both countries. The Islamic Emirate invites its neighboring and friend country, Uzbekistan, to invest in this project, which will enable Uzbekistan to expand its bilateral trade with South Asian countries, Iran, and China, playing a crucial role in regional stability and development.

Additionally, we call upon our friend nation, Uzbekistan, to invest in the second tunnel of the Salang Highway, which serves as a key transit route connecting Central Asia with South Asia. The Islamic Emirate welcomes such investment and is fully prepared to cooperate in this regard.

The Islamic Emirate of Afghanistan assures its full cooperation in all mutual endeavors. Moreover, both sides should explore new initiatives and projects that will contribute to the development of strategic infrastructure, joint trade, transit, regional affairs, and economic relations between the two countries.

Furthermore, Your Excellency, I hope that the agreements and discussions from your recent visit to Kabul, on which work has been carried out and agreements have been signed, will be implemented as soon as possible. In this regard, the joint technical teams of both countries should work closely together.

In conclusion, I would like to reiterate that the Islamic Emirate of Afghanistan remains committed to all security, economic, and cultural relations with the Republic of Uzbekistan and is eager to expand friendly ties between the two nations.

Thank you for your attention.

***On the February 22, 2025, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs, also met with the Prime Minister of Uzbekistan, Abdullah Aripov. During the meeting, discussions were held on the implementation of agreements signed between the two countries in various sectors. Referring to the foreign policy of the Islamic Emirate, the Deputy Prime Minister emphasized that the policy of the Islamic Emirate towards neighboring, regional, and world countries is based on neutrality and non-interference, and it expects the same commitment to this principle from others.***

***Deputy Prime Minister Mullah Baradar Akhund added that the Islamic Emirate has made serious efforts to combat the cultivation, production, use, and trafficking of narcotics, and has prevented their smuggling to neighboring countries. The Islamic Emirate assures that Afghan soil will not be used against neighboring, regional, or global countries, and no threat will emanate from Afghanistan.***

## SPEECH OF MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND, THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS, AT THE MEETING WITH THE PRIME MINISTER OF UZBEKISTAN

In the Name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful

Your Excellency, Prime Minister of the Republic of Uzbekistan, Mr. Abdullah Aripov, and all esteemed participants of this meeting,

Peace, mercy, and blessings of Allah be upon you!

First and foremost, I extend my gratitude to the Prime Minister of Uzbekistan for the warm invitation and hospitality, which I consider a clear sign of mutual trust and strong cooperation between our two neighboring and friend countries.

The foreign policy of the Islamic Emirate is based on the principles of neutrality and non-interference in the affairs of neighboring, regional, and global countries. We also expect other nations to adhere to these principles in their relations with Afghanistan.

The Republic of Uzbekistan has taken a positive stance on Afghanistan in the international arena. The Islamic Emirate appreciates the constructive and realistic approach of His Excellency President Shavkat Mirziyoyev of Uzbekistan. As a neighboring brotherly country, Uzbekistan holds a special place in the hearts of Afghans due to the deep religious, cultural, ethnic, and linguistic ties that have historically brought our two nations closer.

The Afghan and Uzbek nations share a common history and Islamic heritage. Regions such as Bukhara and Samarkand have been recognized as centers of Islamic civilization, and Afghans have greatly benefited from the knowledge and wisdom of renowned scholars like Imam Bukhari and Imam Tirmidhi.

The foreign policy of the Islamic Emirate is independent, positive, neutral, balanced, and economy-oriented. We seek good relations with all countries, particularly with our neighbors. Accordingly, the Islamic Emirate of Afghanistan desires to establish deeper and more meaningful engagement with the Republic of Uzbekistan.

The Islamic Emirate has taken firm steps in the fight against the cultivation, production, consumption, and trafficking of narcotics. We have banned their cultivation and production and have actively prevented their smuggling into neighboring countries. We assure all our neighboring, regional, and international partners that Afghan soil will not be used against any country and that no threats will emanate from Afghanistan toward any nation.

The Islamic Emirate of Afghanistan invites the friend and neighboring country of Uzbekistan to invest in various sectors of Afghanistan, including transportation, energy, agriculture, mining, railways, and industrial production. We encourage the Uzbek government to facilitate and motivate Uzbek investors to expand their economic activities and investments in Afghanistan based on mutual interests.

The expansion of railways and road networks between Uzbekistan and Afghanistan has been a significant and fundamental topic. The Mazar-e-Sharif – Herat railway project, extending further to Kandahar, which connects Uzbekistan with Iran and China, is of vital



# TWO-DAY VISIT
## of Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund
# TO UZBEKISTAN

A high-level delegation of the Islamic Emirate, led by the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, departed from Kabul on February 22, 2025, on a two-day official visit to Tashkent, the capital of Uzbekistan.

Upon arrival at Tashkent International Airport, the delegation was warmly received by Jamshid Khodjaev, Deputy Prime Minister of Uzbekistan; Ismatulla Irgashev, the Special Representative of the President of Uzbekistan for Afghanistan; and Sheikh Abdul Ghaffar Bahr, Ambassador of the Islamic Emirate in Uzbekistan.

Following this, the high-level delegation of the Islamic Emirate, led by the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, met with Jamshid Khodjaev, Deputy Prime Minister of Uzbekistan. During the meeting, both sides discussed the expansion of trade and transit relations and the investment of Uzbek investors in Afghanistan. The Uzbek side expressed readiness to enhance trade ties with Kabul and stated their intention to establish a joint trade zone at the border between the two countries. This zone will include processing factories for pine nuts and cotton, packaging and logistics centers, and production plants for certain food items.

Additionally, during the meeting, the Uzbek side expressed interest in investing in Afghanistan's industrial sector, cement production, and the exploration and extraction of oil and gas. The Deputy Prime Minister for Economic Affairs welcomed these investment initiatives and assured full cooperation and support from his side.

Speech of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs at the Meeting with Jamshid Khodjaev, Deputy Prime Minister of Uzbekistan:

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |

Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**